# مسیحیت څه ته وايي؟

# مسيحيت څه ته وايي؟

ليکونکی : ډاکټر ويليم . م. ميلر

ژباړونکی : د نوي ډيلي افغان کليسا (د سپيڅلي کتاب د ژباړې کميټه)

د چاپ کال : ۲۰۱۶

# BELIEFS AND PRACTICES OF CHRISTIANS

**By Dr. William M. Miller**

**Translated by: Afghan Church of New Delhi**

**(Bible Translation Committee)**

**All Rights Reserved**

**Print 2016**

# د محتوياتو لړليک (فهرست)

**د کتاب لنډه پيژندنه**

سريزه ........................................................................ ۳

**مسيحيت څه ته وايي :**

۱ - خدای څوک دی؟ ............................................. ۵
۲ - انسان څوک دی؟ ............................................. ۹
۳ – ګناه څه ته وايي؟ ............................................. ۱۱
۴ - آيا مسيحيان د نبيانو او ملايکو په شتون ايمان لري؟.................... ۱۲
۵ – د مسيحيانو سپيڅلي کتابونه کوم دي؟ .................................. ۱۵

- پخوانی تړون ............................................. ۱۶
- نوی تړون ............................................. ۱۷

۶ – عيسی مسيح څنګه وزيږيد او څه يې وکړل؟ ................................ ۲۰
۷ – عيسی مسيح څوک دی؟ ............................................. ۲۹
۸ – د مځکې پر مخ د عيسی مسيح کار څه و؟ ................................ ۳۲
۹ - انسان بايد څه وکړي تر څو له ګناه څخه وژغورل شي او د خدای له خوا وبښل شي؟ ................................ ۳۵
۱۰ – روح القدس څوک دی؟ ............................................. ۳۷
۱۱ - درې اړخيزه يووالی (تثليث) څه ته وايي؟ ................................ ۳۹
۱۲ – کليسا څه ته وايي؟ ............................................. ۴۰
۱۳ – د مسيحيانو مذهبي مراسم کوم دي؟ ................................ ۴۳

- دعا ............................................. ۴۳
- روژه ............................................. ۴۴
- زکات ............................................. ۴۴
- زيارت ............................................. ۴۴
- اخترونه ............................................. ۴۵
- اساسي دودونه ............................................. ۴۵
- واده ............................................. ۴۶

۱۴ - د مسيحيت اخلاقي لارښوونې کومې دي ؟ ................................ ۴۶

۱۵ - د مسیحیانو عقیده د قیامت په هکله ؟ ........................................ ۴۸

- د عیسی مسیح راتگ ........................................................ ۴۹
- د مړو ژوندي کیدل ......................................................... ۵۰
- وروستی قضاوت .............................................................. ۵۰
- جنت او دوزخ ................................................................ ۵۱
- د ایماندارانو مرگ .......................................................... ۵۳
- پای .......................................................................... ۵۳

# سریزه

د دې کتاب ليکونکی ډاکټر ويليام. م. ميلر دی چې په شلمه پيړي کې يې ژوند کاوه، هغه د خپل ژوند ۴۳ له برکت ډک کلونه د حقيقي خدای په چوپړ کې تير کړيدي، هغه په ايران کې د کليسا له بنسټګرانو څخه دی او د خپل ژوند نيمه برخه يې په همدی لار کې خدای حضور ته سپارلی ده .
ستاسو په لاس کې دا کتاب د هغه د ژوند يوه خوږه لاسته راوړنه ده چې د مسيحيت په اړه هيڅ موضوع پکې پټه او مبهمه پاتې شوې نده، هغه پدې کتاب کې ژور مطالب په ډيره ساده او لنډه توګه بيان کړيدي، دغه کتاب د هغه د نيمې پيړۍ تجربې او خدمت نتيجه ده چې ټولو ايماندارانو او خصوصاً آسيايي او ايراني ورونو ته يې وړاندې کړی، او لدې پرته هغه د نورو لسګونوعلمي کتابونو مصنف هم دی.

دهغه په نظرهر څوک چې دغه کتاب لولي د هغه نږدی دوست او ملګری دی نو لدې کبله د کتاب په مختلفو برخو کې خپل لوستونکي د خوږ دوست په نوم رابلي.

دا خو اړينه ده تر څو هر قوم او د هرې ژبې ويونکي په خپله ژبه د خدای کلام او دهغې اړوند مسائل ولولي او ځان پرې پوه کړي.
دهمدی ضرورت پر بنياد دا کتاب په ۲۰۰۳ کال کی د ايونجليکل بوټ ټرست ډلې لخوا په پښتو ژبه وژباړل شو او ( د ګرانه وروره سلام ) تر عنوان لاندې خپور شو. ولې ددې اړتيا احساس شوه چې دغه قيمتي کتاب يو ځل بيا په ستندرد او روانه افغاني پښتو ژبه وژباړل شي. ترڅو له پښتنو سره د مسيحي عقيدې، د هغې د اخلاقي لارښوونو او د حقيقي خدای په پيژندنه کې مرسته وکړي.

نه يوازې دا کتاب بلکې اړينه بولو ترڅو د خدای ژوندی کلام او همدغه راز نور ګټور کتابونه په روانه پښتو ژبه وژباړل شي او لدې اړخه د هغوی روحاني تنده پرې ماته شي.

د نوي ډيلي افغان کليسا وياړي چې دا له ارزښت نه ډک کتاب يې د نورو سازمانونو په هر اړخيزې مرستې وژباړه. او د همدوی په مرسته دا کتاب د اقبال چاپ وموند. مونږ پداسې حال کې چې له مرستندويو سازمانونو څخه يوه نړۍ مننه کوو د لوی او يواځيني ژوندي خدای حضور ته لاس په دعا يو چې زمونږ دغه خواري د منني وړ وګرځوي او له ټولو پښتنو څخه پدې لار کې د دعاو غوښتونکي يو.

په خورا درنښت

جون ۲۰۱۶

# مسيحيت څه ته وايي ؟

## ګرانه!

تر هر څه دمخه ستا د روح او جسم سلامتي غواړم او له لوی خدای څخه ډېره مننه کوم چې ستا غوندې دوست لرم.

ګرانه! په تیرو وختونو کې تا یو څو پوښتنې درلودې چې له بده مرغه د وخت د کموالي له امله هغه ټولې پوښتنې بې ځوابه پاتې شوې وې، نن خوښ یم چې کولی شم دغه اوږد لیک تاته درولیږم او کوښښ کوم چې ستا د ټولو پوښتنو ځوابونه ولیکم او تا ته در ښکاره کړم چې مسیحیان په څه باندې باور لري؟ څه کوي، د دوی مذهبي مراسم کوم دي او دوی څه رواجونه لري؟ تا ته به ښکاره وي چې په دنیا کې نژدې زر میلیونه خلک ځان مسیحیان ګڼي، ځینې ایمانداره مسیحیان دي او ځینې له بده مرغه تش په نامه مسیحیان دي ، د نورو دینونو په شان مسیحیان هم په بیلو بیلو ډلو کې ویشلي شوي دي او د دوی مذهبي رسمونه او عبادت فرق لري، دا یو ناشوني کار دی چې زه د ټولو مسیحي ډلو عقیدې پدې لیک کې ولیکم او یا داسې څه ووایم چې ټول مسیحیان پر هغې عقیده ولري، مګر دومره باور لرم چې په میلیونو مسیحیان په دنیا کې شته او پر هغو حقیقتونو باور لري چې ته یې پدې لیک کې لولې. هیله لرم چې د دې لیک په لوستلو سره خدای ته نژدې شې ، هغه ښه وپیژنې ، مینه ورسره وکړې او په پوره توګه د هغه اطاعت وکړې، همدغه راز هڅه کوم چې ستا د پوښتنو ځواب ووایم.

## ۱- خدای څوک دی؟

ګرانه! باور لرم چې ستا لومړۍ پوښتنه به دا وي چې مسیحیان د خدای په هکله څه عقیده لري؟
په هر مذهب کې تر ټولو دمخه د خدای پیژندنې په هکله د هغه مذهب عقاید او نظریات ډیر اهمیت لري ، زه پوهیږم چې ناپوهو خلکو به تا ته ویلې وي چې مسیحیان د درې خدایانو عبادت کوي ، ځینې وایي چې مسیحیان صلیب پرسته دي، د بتانو او انساني مجسمو پرستش کوي. دا لازمه ده تر څو تا پوهه کړم چې دا خبره سوچه دروغ ده، ریښتیني مسیحیان پر یو خدای ایمان لري او که څوک پر یو خدای ایمان ونلري نو کافر او ګمراه دی. وګوره! هغه چا چې له عیسی مسیح څخه پوښتنه وکړه چې د خدای لوی حکم کوم دی؟ هغه ځواب ورکړ: (مالک خدای زموږ یو خدای دی، ته له مالک خدای سره په ټول زړه، په ټول روح، په ټول عقل او ټول ځواک سره مینه وکړه.) (مرقس ۱۲ : ۲۹- ۳۰)

په تیرو وختونو کې د خدای ټولو انبیاؤ ویل چې خدای یو دی او خلک یې له بت پرستۍ څخه منع کول.
مسیحیان پر هغه واحد خدای ایمان لري چې د ځای او وخت په قید کی محدود نه دی، نه اول لري نه آخر، هغه ازلي او ابدي دی، مونږ پر هغه خدای ایمان لرو چې په هر څه خبر او د ټولو قدرتونو خاوند دی او ټول لیدونکي او نه لیدونکي شیان د هغه د کلام په واسطه منځ ته راغلي دي. که څوک لږ عقل ولري آسمان ، لمر، سپوږمۍ، او میلیونو ستورو ته وګوري او هڅه وکړي چې د لوی خدای د پیدایښت، لوی والي او جلال حتی یوه برخه هم درک کړي نو خامخا به له داود نبي سره همغږې شي او وبه وایي:
(آسمانونه د لوی خدای جلال او لویي څرګندوي او فلک د ده د لاسونو عمل بیانوي.)
(زبور ۱۹ :۱)
د لوی خدای ځواک او حکمت څومره لوی دی چې نه یواځې یې په آسمان کې ستوري او نور آسماني شیان شته کړي دی، بلکې په ځمکه کې یې ډیر واړه ګلونه او حشرې پیدا کړي دی او د دوی ساتنه هم کوي. لوی خدای قادر مطلق دی، هر څه چې وغواړي هغه تر سره کوي، هیڅوک او هیڅ شی د لوی خدای د پریکړې مخه نشي نیولی. پاک خدای د دې دنیا لپاره پلان لري او هیڅ څوک دا ځواک نلري چې د دې پلان د پلی کولو مخه ونیسي، مونږ بشپړ ایمان لرو چې خدای نه یواځې لوی او قادر دی بلکې ډیر سپیڅلی هم دی. په تیرو وختونو کې چې رومیانو او یونانیانو پر ډیرو خدایانو عقیده درلوده نو فکر یې کاوه چې خدای دروغ وایي، غلا، او قتل کوي او ناوړه کارونه تر سره کوي، مګر په انجیل کې ویل شوي چې خدای له هرې بدۍ څخه پاک دی، هیڅ عیب پکې نشته او کامل دی. د خدای پاک یو نژدې بنده ملایکې ولیدې چې په سجده پرتې وې، د خدای په سپیڅلي حضورکی یې عبادت کاوه او ویل یې: (قدوس، قدوس، قدوس، مالک قادر مطلق خدای. هغه چې و، دی او راځي.) (مکاشفه ۴: ۸)
که څه هم ټول ځواکونه د خدای په لاس کې دي خو لوی خدای هغه څه نه کوي کوم چې د هغه د سپیڅلي ذات مخالف وي، د مثال په توګه لوی خدای نشي کولای چې دروغ ووایي او یا کوم غیرعادلانه کار وکړي.

څرګنده ده چې لوی خدای د ځای او وخت په قید کې محدود نه دی او لکه د انسان بدن نه لري خو په هر ځای کې حاضر دی، کله چې مونږ د لوی خدای د لاس، سترګې او زړه څخه خبرې کوو، دا جسماني اصطلاحات د معنوي مقاصدو لپاره استعمالوو، خدای زمونږ څخه ډیر لوی دی او مونږ ته ډیر نژدې هم دی، ځکه وایو چې لوی خدای مونږ په خپلو سترګو ویني، پخپلو لاسونو مو ساتي او په خپل زړه کې مونږ سره مینه کوي.

سره لدې چې د لوی خدای ټول صفات مونږ ته ارزښتناکه دي خو مونږ مسیحیان په خصوصي توګه ډېر مننوديه يو ځکه هغه خدای چې مونږ يې عبادت کوو د مينې خدای دی او دا صفت تر ټولو ډېر مهم دی لکه چې انجيل وايي: ( څوک چې مينه نه لري هغه خدای نه پيژني، ځکه چې خدای مينه ده.) (اول يوحنا ۴: ۸)

يعنې هر څه چې سپيڅلی خدای يې کوي د مينې له مخې دي، لوی خدای له انسان سره په بيلو بيلو شکلونو خپله مينه ښکاره کوي چې له هغې جملې څخه د انسان د هغو احتياجاتو بشپړول دي چې انسان ورته د ځمکې پر مخ اړ دی لکه باران، لمر، ډوډۍ، اوبه، کالي او داسې نور.

همدغه راز هغه د انبياؤ په راليږلو سره خپله مينه مونږ ته ښکاره کړه تر څو انبياء د هغه په باره کې مونږ سره خبرې وکړې، د خدای تر ټولو لويه مينه د ژغورونکي راليږل وو چې پدې هکله به وروسته خبرې وکړو، لوی خدای د خپلو ټولو بند ګانو سره مينه کوي او هغوی ته نيکمرغي غواړي. داود نبي د لوی خدای لارښوونه چې هغه ته شوې وه په ډيرو ښکلو کلمو کې بيانوي (لوی خدای زما شپون دی زه به هيڅ شي ته محتاج نشم، ما په شنو څرند ځايونو کې څملوي، د آرامو چينو څنګ ته مې لارښوونه کوي، ما ته تازه روح رابښي، او د خپل نوم لپاره ما د عدالت لارو ته سموي.) (زبور ۲۳: ۱-۳)

دا ډيره طبيعي خبره ده چې لوی خدای له هغه چا سره مينه کوي کوم چې د هغه اطاعت کوي او ور سره مينه لري، آيا هغه له هغو خلکو سره هم مينه کوي چې د هغه اطاعت نۀ کوي؟ ، نو معلومه ده لکه څنګه چې هغه ډېر پاک دی نو له بديو څخه کرکه کوي او له ښه والي سره مينه لري، هغه خلک چې ناوړه کارونه کوي لوی خدای پر داسې خلکو غصه کيږي، لکه چې داود نبي خدای ته وايي: (له ټولو بدي کوونکو څخه کرکه کوې.) (زبور ۵:۵)

پاک خدای خپله کرکه ناوړه خلکو ته د سزا ورکولو په واسطه څرګندوي، کله چې مونږ انجيل لولو نو وينو چې لوی خدای هغه خلک او ملتونه تباه کړي دی کومو چې توبه نه ويستله او له هغه سره يې دښمني کوله.

اوس اجازه راکړئ چې يو څرګند حقيقت در ته بيان کړم: لکه څرنګه چې لوی خدای له بد کردارو څخه کرکه کوي، له بله پلوه غواړي چې دوی له خپلو ګناهونو څخه پاک وساتي، خدای پر دوی مهربان دی او د داسې پلار په څير دی چې که زوی د ده خبرې و نه مني بيا هم له هغه سره مينه کوي، د پاک خدای دا مينه د عيسی د يو داستان په وسيله څرګنده شوې ده.

پدې داستان کې عیسی وایي چې : (د یو سړي دوه زامن وو، کشر یې پلار ته وویل : پلاره! زما برخه جایداد ما ته راوسپاره، نو پلار یې خپل جایداد پر هغو وویشلو، لږه موده پس کشر زوی یې خپل ټول جایداد خرڅ کړ، پیسې یې پرې نغدې کړې، یو لیري وطن ته ولاړ او هلته یې خپل مال په بد چلنۍ دوړه کړ او هر څه یې ضایع کړل، کله چې پر هغه وطن سخته قحطي راغله او هغه ته یې هم تاو ور ورسید نو هغه ولاړ او د هغه ځای له یو سرمایه دار سره مزدور شو او کار یې دا و چې خنزیران وڅروي، د هغه ډیر زړه کیده چې له هغه خوراک څخه ګیډه ډکه کړي کوم به چې خنزیرانو خواړه، خو هیچا هم هغه ته دا نه ورکاوه، بیا هغه په سد شو او ویې ویل: زما د پلار څومره نوکران له خپل ضرورت څخه زیاته ډوډۍ لري او زه دلته له ولږې مرم، زه به لاړ شم او خپل پلار ته به ووایم چې پلاره! زه د خدای او ستا په وړاندې ګناهګار یم نور زه د دې قابل نه یم چې ته ما خپل زوی وګڼې، ته ما په خپلو نوکرانو کې وشماره، او پدې نیت هغه د خپل پلار کور ته روان شو، خو هغه لا ډیر لیري و چې د پلار نظر پرې پریوت او زړه یې پرې وسوځید، ورمنډه یې کړه، په غیږ کې یې ونیو او ښکل یې کړ.

زوی ورته وویل: پلاره! زه د خدای او ستا په وړاندې ګناهګار یم، لدې وروسته زه ستا د زوی بللو لایق نه یم، خو پلار یې خپلو نوکرانو ته وویل: ژر شئ، زما غوره چوغه راوړئ او ده ته یې ورواغوندئ، ګوتمه ور په ګوته کړئ او څپلۍ ورپه پښو کړئ. یو څورب (چاغ) خوسی راولئ ، حلال یې کړئ او راځئ چې خوشحالي وکړو، ځکه چې زما دا مړ زوی بیا راژوندی شو، دی خو ورک شوی و او بیا موندل شو، او پدی ډول خوشحالي پیل شوه. عیسی مسیح وویل چې: (لوی خدای هم همدغه شان له ګناهګارانو سره مینه کوي.) (لوقا ۱۵: ۱۱- ۲۴)

ګرانه! پدې حقیقت پوهیدل چې لوی خدای زمونږ سره مینه کوي، غواړي چې مونږ وبښي او تیار دی چې هر وخت مونږ توبه وکړو او د هغه خوا ته ولاړ شو مونږ ومني، دا زمونږ ګناهګارانو لپاره ډیره د خوشحالۍ خبره ده.

په انجیل کې د لوی خدای لپاره ډیر نومونه ذکر شوي چې له هغې جملې څخه قادر مطلق، خدای تعالی، متعال، ابدي، ژوندی، سپیڅلی، عادل پاچا، خلاصوونکی، خالق او د خلکو شپون دی، مګر مونږ مسیحیان د هغه یو نوم چې (آسماني پلار) دی ډیر خوښوو، هر کله به چې عیسی مسیح د لوی خدای په باره کې خبرې کولې نوهغه به ویل: (زما پلار). عیسی مسیح خپلو شاګردانو ته ویل: هر کله چې دعا کوئ داسې ووایاست: (اې زمونږ آسماني پلاره، ستا نوم دې پاک وي.) (متی۶ : ۹)

آیا د انسان لپاره تر دې ستر وياړ شته چې د سپيڅلي خدای روحاني زوی شي او وپوهيږي چې لوی خدای د ده له مينې ډک پلار دی، دا لوی وياړ هر هغه چا ته ورښنل کيږي چې پر عيسی مسيح ايمان راوړي.

که د مطالعې په وخت کې دا پوښتنه درته پيدا شوې وي چې درې اړخيزه يووالې (تثليث) څه ته وايي نو صبر وکړه ترڅو لږ څه وروسته دا لوی اعتقاد تاسو ته بيان کړم.

## ۲- انسان څوک دی؟

ګرانه! مخکې مې تا ته د مسيحيانو د ايمان په باره کې چې پر خدای يې لري يو لنډ مطلب وړاندې کړ، اوس به هڅه وکړم چې تا ته څرګنده کړم چې مسيحيان د انسان د پيدايښت په هکله څه نظر لري؟ ځکه چې د انسان د پيدايښت په باره کې د سمې عقيدې درلودل دومره ضروري دي لکه څومره چې د خدای په هکله د سمو معلوماتو درلودل ضروري وي. د انسان په هکله څرګندونې له انجيل څخه اخيستل کيږي.

د تورات په پيل کې ويل شوي دي: (هغه وخت چې خدای آسمانونه، ځمکه او ټول کاينات او حيوانات پيدا کړل، نو وروسته له هغې يې انسان پيدا کړ او انسان يې نر او ښځه پيدا کړل، پاک خدای انسان په خپل انځور پيدا کړ.) د پيدايښت لومړی او دويم بابونه.

دا مطلب داسې معنی نه ورکوي چې لوی خدای د جسم خاوند دی او د انسان جسم يې لکه د ځان پشان پيدا کړی دی بلکې د خدای مطلب دا دی چې انسان يې روحاً د ځان په څير پيدا کړی دی، خدای انسان ته عقل ورکړ تر څو پر هغه استدلال وکړي، زړه يې ورکړ چې پر هغه باندې مينه وکړي او وجدان يې ورکړ ترڅو د ښو او بدو تميز وکړي، اراده يې ورکړه چې ښه کارونه سر ته ورسوي او ژبه يې ورکړه چې خبرې وکړي، خدای انسان داسې د ځان په څير پيدا کړ چې وکولی شي خدای وپيژني، لدې کبله انسان له ټولو مخلوقاتو لوړ دی، ځينی کسان اشتباه کوي او وايي چې انسان په هغه وخت کې خدای و، خو رښتيا خبره دا ده چې په هغه وخت کې انسان خدای ته ډير نژدې او پاک و.

ځکه چې په هغه کې ګناه نه وه او د ماشين په څير نه و، خدای هغه ته اراده ورکړې وه چې د ټاکنې واک ولري، خدای تعالی انسان خپلواک پيدا کړو تر څو په خپله خوښه د پاک خدای اطاعت، عبادت او خدمت وکړي. د خدای تعالی هيله دا وه چې په دنيا کې ټول خلک هغه د خپل پلار په توګه وګڼي، دوی يو بل سره د وروڼو په څير ژوند وکړي او په دې دنيا کې په خوشحالی سره د پاک خدای اراده پر ځای کړي. زمونږ په نننۍ دنيا کې ډول ډول نژادونه شته چې د رنګ، جسم او ژبې له کبله يو بل سره ډير توپير لري خو ټول له يوې وينې څخه دي، په يوه کهول پورې تړلي او خدای له دوی ټولو سره يو شان مينه

او محبت لري. په خواشینی سره باید ووایو، هغه څه چې د انسان په هکله د خدای پاکه اراده وه عملي نشوه، د دې پر ځای چې انسان له خپلې آزادې ارادې څخه د خدای تعالی د اطاعت او خدمت لپاره استفاده وکړي، د هغې پر ځای ترې د پاک خدای د دښمنی په لاره کې ګټه پورته کوي، لکه چې په دویمو او دریمو فصلونو کې وویل شول، لوی خدای زمونږ لومړني مور او پلار ادم او حوا ته امر وکړ چې د هغې ونې له میوې څخه چې ښه او بد معلوموی و نه خوري، ونه د عدن د باغ په منځ کې وه، چیرې چې انسان پیدا شوی و.

خدای تعالی هغوی ته وویل : (که دوی لدې میوې څخه وخوری نو خامخا به مړه شي) مګر شیطان د مار په شکل کې باغ ته ننوت او حوا یې راضي کړه چې له هغې میوې څخه وخوري، بیا حوا هغه میوه آدم ته ورکړه او هغه هم لدې میوې څخه وخوړه. زمونږ د لومړنی مور او پلار دا کار یوه وړه خطا نه وه، بلکې د خالق په وړاندی یوه قصدي نافرماني وه. هغوی غوښتل چې د خدای په څیر شي، هغوی نه غوښتل چې د خدای د ارادې اطاعت وکړي بلکې غوښتل یې چې خپلې غوښتنې سر ته ورسوي، لوی خدای هغوی ته په قهر شو او هغوی ته یې سخته سزا ورکړه، هغوی یې له باغه وویستل تر څو له ویر څخه په ډکه دنیا کې ژوند وکړي، تر ټولو ناوړه کار دا و چې آدم او حوا د پاک خدای نژدې والي له لاسه ورکړ او په پای کې یې بله ښه غوره کړه، اول دوی پاک او بې ګناه وو، وروسته لړلي او ګناهګاران شول، مخکې لدې چې د خدای نافرماني وکړي دوی کولی شول چې د خدای رضا په ښه توګه سر ته ورسوي مګر وروسته دوی په حقیقت پوه وو خو د هغه د پیروۍ لپاره یې لازم قدرت نه درلود، د زماني په تیریدو له ښو اعمالو څخه زړه توري شول او د ناوړه کارونو سره یې مینه پیدا شوه، د لوی خدای په مقابل کې دا ډول پاڅون د انجیل لمخې ګناه ګڼل کیږي او د هغې پای مرګ دی.

د انسان د لومړنی ګناه څیړل او تشریح زمونږ لپاره ډیر اهمیت لري، ځکه د هغې په واسطه کولی شو د نني انسان پر حالت وپوهیږو. د دې دنیا خلک د پیدایښت په پیل کې د آدم او حوا پشان پاک او سپیڅلي نه دي، د دې حقیقت د پیدا کولو لپاره ضروري نده چې بل څوک وڅیړو بلکې بسیا کوي چې خپلو زړونو ته وګورو، ډیر شیان چې د هغو پر بدوالي خبر یو خو بیا هم هغه تر سره کوو، مونږ پوهیږو چې دروغ ویل بد دي مګر کله نا کله مونږ هم دروغ وایو، پدې پوره خبر یو چې مینه تر کرکې ښه ده مګر له ډیرو څخه کرکه لرو، مونږ ولی دا کارونه کوو؟ ځکه مونږ ته له خپل لومړني مور او پلار څخه په میراث پاتې شوي دي، د هغوی په څیر نه غواړو او نشو کولی تر څو د سپیڅلي خدای اراده په بشپړه توګه تر سره کړو.

هغه وخت چې یو ماشوم په دنیا کې پیدا کیږي داسې معلومیږي چې بې ګناه او پاک دی خو ډیر ژر په هغه کې شرارت پیدا کیږي لکه چې داود نبي د خپل ځان په باره کې وایي:

(دا دی زه له ګناه څخه جوړ شوی یم او کله چې د مور په ګېډه شوم نو په ګناه لړلې وم.)
(زبور ۵۱ : ۵)
ټول مجبور یو تر څو دا حقیقت ومنو چې ټول انسانان په ګناه لړلي دي او د سپیڅلي خدای له کلام سره موافقت وکړو چې وایي: (زړه له هر شي څخه ډیر غولوونکی او ناروغه دی، څوک دی چې پدې وپوهیږي.) (ارمیا ۱۷ : ۹)
له همدې کبله وو چې عیسی مسیح وفرمایل: (څه چې د انسان له دننه څخه راوځي هغه انسان پلیتوي، ځکه د انسان له زړه څخه بد خیالونه راوځي، حرام کاري او غلا، وژنه، زنا او حرص، بدي، ټګي، بې شرمي، بد نظر، کفر، مغرورتیا او بې عقلي، دا ټول بد کارونه له دننه څخه راوځي او انسان پلیتوي.) (مرقس ۷ : ۲۱- ۲۳) پاک خدای چې د انسان زړه ښه پیژني ویلي دي: (هیڅوک صادق نشته، یو هم نشته) (رومیان ۳ : ۱۰)
فقط یو سړی دی چې له نورو څخه توپیر او له انسان څخه لوړه مرتبه لري چې د هغه په هکله به وروسته معلومات درکړم. د انسان حالت ډیر خراب دی ځکه چې د نافرمانۍ په نتیجه کې یې له خدای سره خپلې اړیکي ختمې کړیدي، انسان د هغه ورک شوې پسه په څیر دی چې په بې اوبو او بې واښو دښته کې مرګ ته نژدې وي. (اشعیا ۵۳ : ۲)، ځکه چې نور انسان د خدای روحاني زوی نه دی، اوس انسان د خدای دښمن ګرځیدلی او د ګناهونو او شیطان په بند کی دی. (رومیان ۶ : ۱۷)
انسان نشي کولی چې د خدای په سپیڅلو لارو کې وګرځي، په حقیقت کې هغه په ګناهونو کې ډوب او مړ دی. (افسیان ۲ : ۱)، لکه څرنګه چې خدای آدم ته ویلي وو چې د ګناه بدله مرګ دی، جسمي او روحي مرګ (روحي مرګ له خدای څخه بیلتون دی.)

## ۳- ګناه څه ته وایي؟

ګرانه! اوس باید زیار وباسم تر څو روښانه کړم چې ګناه څه ته وایی؟ ګناه یوازې غلا، زنا، وژنه، مستۍ او داسې نورو ناوړه کارونو ته نه وایي بلکې ګناه له خدای پاک څخه لیرې کیدو او د خدای د ارادې مخالف کارونو کولو ته وایي، همدغه راز یوازې ناوړه کارونه په ګناه کې شامل ندي بلکې غرور، حسد، کرکه او شهواني فکرونه هم ګناه بلل کیږي، عیسی مسیح ویلي دي: (د پاک خدای لوی حکمونه دا دي چې له خپل خدای سره د زړه له کومې مینه ولرو او له خپل ګاونډي سره داسې مینه ولرو لکه چې د خپل ځان سره لرو. (مرقس ۱۲: ۲۹ - ۳۳)

پورتني دوه حکمونه د خدای اصلي حکمونه دي، په همدې دلیل د خدای او انسانانو په مینه کې کموالی هم ګناه ده. آیا داسې څوک پیدا کیږي چې دا حکمونه یې په بشپړ ډول تر سره کړي وي؟ له عیسی مسیح پرته چې بې ګناه او پاک و نورو ټولو خلکو دا حکمونه مات کړي دي، عیسی مسیح بشپړ ژوند درلود او خدای غواړي چې مونږ هم د هغه په څیر ژوند ولرو.

د لوی خدای امر دا دی چې (تاسو کامل شئ لکه څنګه چی ستاسو آسماني پلار کامل دی.) (متی ۵ : ۴۸)

ولې مونږ انسانان چې زمونږ زړونه له ګناه او شرارت څخه ډک دي څنګه کولی شو هغه ډول چې خدای فرمایلي دي ښه او بې ګناه واوسو، هغه څوک چې د سرطان ناروغي ولري هغه د پرهیز په هکله نصیحت ته ضرورت نلري بلکې یو پوه داکټر ته ضرورت لري چې وکولی شی روغتیا وکړي. هغه څوک چې د ګناه په ناروغۍ اخته وي د هغه علاج د شرعي قوانینو په اوریدو سره نه کیږي، هغه یو داسې روحاني داکټر ته اړتیا لري چې وکولی شي هغه بدل کړي او په هغه کې نوې زړه، نوې اراده او نوی قوت پیدا کړي تر څو هغه وکولای شي هغه څه وکړي چې خدای یې له هغه څخه غواړي، دا یوه معلومه خبره ده چې ټول انسانان هغه چا ته اړ دي چې وکولی شي دوی له ګناه څخه خلاص کړي او د خدای زامن ترې جوړ کړي، نو تا ته به دا خبره څرګنده کړم چې خدای پخپل لوی قدرت سره د دې جهان لپاره څنګه یو ژغورونکی رالیږلی دی.

## ۴- آیا مسیحیان د نبیانو او ملایکو په شتون ایمان لري؟

ګرانه! اوس غواړم ستا بلې پوښتنې ته چې د انبیاؤ په هکله د مسیحیانو د عقیدې په باره کې ده ځواب ووایم. مسیحیان عقیده لري چې پاک خدای انبیاء راولیږل تر څو خپل کلام د هغوی په واسطه انسانانو ته ورسوي، د ګناه په وجه ډیرو خلکو و نه غوښتل چې د خدای پاک کلام واوري، یا چې د روحاني غوږونو د کوڼوالي په وجه دوی نه شو کولی ترڅو هغه واوري، خو یو څو نارینه او ښځې وو چې توبه یې وکړه او خدای تعالی دوی وبښل، خدای تعالی د هغوی سره خبرې وکړې او هغوی ته یې لارښوونه وکړه چې د خدای کلام نورو ته ورسوي، لدې کبله هغوی د خدای تعالی پیغمبران شول.

د انبیاؤ په هکله زمونږ معلومات له سپیڅلي کتاب څخه سرچینه اخلي په کوم کي چې د ځینو پیغمبرانو د ژوند کیسې او کارونه ذکر شوي دي، هغوی د خدای د کلام د رسولو لپاره خلکو ته رالیږل شوي وو، د هغو انبیاو نومونه چې په سپیڅلی کتاب کې ذکر شوي دا دي : ابراهیم، موسی، هارون (د موسی ورور)، مریم (د موسی خور)، ناتان، سموئیل، داود، ایلیا، الیشع، اشعیا، ارمیا، یونس، یوئیل، دانیال او یحیی چې خاتم النبیین او

له عیسی مسیح څخه مخکې و، همدغه راز ابراهیم چې د خدای دوست او د ایماندارانو پلار بلل کیږي د خدای په واسطه وټاکل شو تر څو د ډیرو قومونو پلار واوسي، په زوړ عمر کې ده ته یو زوی ورکړل شو کوم چې د هغه له میرمنې سارا څخه دنیا ته راغی، نوم یې اسحاق و او ابراهیم د خدای د امر پر ځای کولو لپاره دې ته تیار شو چې هغه قرباني کړي مګر خدای د اسحاق پر ځای یو ګډوری راولیږه (پیدایښت ۲۲ : ۱ - ۱۹). له هغی وروسته خدای له ابراهیم سره وعده وکړه چې د اسحاق له نسل څخه به دنیا ته خلاصون او برکت ور په برخه کړي او دغه وعده د عیسی په راتګ سره پوره شوه.

له عیسی څخه وروسته نور رسولان لکه پطروس او پولس هم راغلل چې د خدای کلام یې خلکو ته وړاندې کړ او هغوی ته یې وویل چې پر عیسی باندې ایمان راوړي، مونږ عقیده لرو چې دوی د خدای وروستني پیغمبران وو، ځکه هر څوک چې د خدای حقیقي پیغام خلکو ته رسوي هغه ته نبي ویل کیږي، لدی پلوه د انبیاؤ په هکله د مسیحیانو عقیده له نورو مذاهبو سره فرق لري، غواړم چې یو څو حقیقتونو ته اشاره وکړم:

۱. د انبیاؤ شمیر څرګند نه دی او د ډیرو نومونه مونږ نه پیژنو.
۲. تر هغه ځایه چې مونږ پوهیږو ټول انبیاء د ابراهیم له نسل څخه دي.
۳. ټول پیغمبران د یوې دوه زره کلنې مودې په اوږدو کې راالیږل شوي دي.
۴. انبیاء عموماً اسرائیلو ته لیږل کیدل ځکه چې اسرائیل د خدای له خوا داسې قوم وټاکل شو چې تر ټولو ښه قوم وي او د هغوی په واسطه د خدای کلام او حقیقت نورو ته څرګند او ور وپیژندل شي.
۵. انبیاء بې ګناه وو خو هغه کسان وو چې ګناهونه یې خدای ښښلي وو.
۶. انبیاء د خلکو له هغو خپلواکو پرګنو څخه منځ ته راغلل چې ځینې یې شتمن، ځیني بې وزله، ځینو زده کړې درلودې او ځینی هم بې سواده وو، پدوی کې ځیني ځوانان او ځینې زاړه هم وو.
۷. ځینو انبیاؤ لکه ایلیا او یحیی کوم کتاب و نه لیکه، مګر ځینو نورو لکه موسی، داود، اشعیا، یوحنا او پولوس د خدای کلام ولیکه تر څو نور نسلونه ترې ګټه واخلي.
۸. د پاک خدای کلام انبیاؤ ته په بیلابیلو طریقو راتلو. ځینو د پاک خدای آواز اوريد، ځینو د خدای کلام د فرښتو په وسیله ترلاسه کاوه، ځینو خوب او ځینو رویا لیدله او ځینو هم د خدای کلام د خپل فکر او زړه په وسیله حس کاوه، ټولو

انبیاؤ ټینګ ایمان درلود چې پاک خدای له هغوی سره خبرې کړي او په ټینګه عقیده به یې ویل: (لوی خدای داسې فرمایي.)

۹. ځینو انبیاؤ لکه موسی، الیشع او پطروس د معجزې قدرت درلود تر څو هغوی د هغې په واسطه د لوی خدای د وینا حقیقت ثابت کړي، خو ځینو نورو لکه یحیی کومه معجزه و نه ښودله.

هغه انبیاء چې تر عیسی وړاندې راغلي وو، خلکو ته به یې ویل چې خدای څوک دی او له هغوی څخه څه غواړي؟ او هغوی ته یې ویل چې که څوک د پاک خدای اطاعت و نه کړي نو خدای به هغوی ته جزا ورکړي او همدارنګه یې هغوی ته زیری ورکاوه چې که دوی له ګناهونو څخه لاس واخلي او د لوی خدای لوري ته راشي نو خدای تعالی به هغوی وبښي او برکت به ورکړي. موسی یواځینی نبي و چې د هغه په وسیله د اسرائیلو قوم ته د خدای تعالی له لوري شرعي قوانین راولیږل شول، هغه انبیاء چې له موسی وروسته راغلل خلک به یې د موسی د قوانینو د پیروۍ لپاره تیارول مګر د ګناهکار انسان لپاره دا خبره ډیره سخته وه چې په پوره توګه د پاک خدای د ټولو قوانینو پیروي وکړي، لدې کبله شریعت په دې قادر نه و چې دوی ته خلاصون ورکړي، مګر د هندارې په څیر یې د هغوی ګناهونه هغوی ته ورښودل او هغوی یې پوهول چې څومره ډیر یو خلاصوونکي ته اړتیا لري. د انبیاؤ له ډیرو مهمو دندو څخه یوه دا وه چې خلکو ته به یې ویل: خدای تعالی به نړۍ ته یو داسې خلاصوونکي راولیږي چې خلک ورته ډیره اړتیا لري. کله مو چې د عیسی په باره کې خبرې کولې هغه وعدې به هم ذکر کړم چې د پخوانیو نبیانو په کتابونو کې راغلي دي.

په سپیڅلی کتاب کې راغلي چې له انسان پرته د ملایکو په نوم نور موجودات هم شته چې پاک خدای د هغوی پواسطه خپل کلام او اراده پیغمبرانو ته رالیږلې ده، دا ملایکی ابراهیم، موسی او نورو پیغمبرانو ته د انسان په څیره کې راغلي دي. په سپیڅلی کتاب کې د دوو ملایکو نومونه چې میکائیل او جبرائیل دي ذکر شوي دي. جبرائیل و چې مریمې ته یې وویل: د عیسی په نامه د یو زوی خاونده به شي.

برسیره پر ملایکو نور ارواح هم شتون لري، دوي د خدای اطاعت نکوي او د دوي مشر شیطان دی. مسیحیان فکر کوي چې شیطان د خدای تعالی پواسطه پاک پیدا شوی و مګر د غرور له کبله یې د پاک خدای نافرماني وکړه چې په نتیجه کې یې هغه او هغو ارواو چې د هغه پلوي یې کړې وه خپل لوی او پاک آسماني مقام له لاسه

ورکړ. اوس دوی په خپل ټول ځواک سره زیار باسي چې د مځکې پر مخ د خدای کارونه وران او خراب کړي.
همدغه شیطان و چې حوا یې د عدن په باغ کې تیر ایستله او له هماغي زمانی څخه تر اوسه پورې زیار باسي چې خلک د خدای له لارې څخه لیرې وساتي. روح القدس هغه وخت عیسی بیابان ته ویوړ چې د ابلیس په واسطه یې وآزمایي. هغه څلوېښت ورځې او څلوېښت شپې روژه ونیوله او په پای کې وږی شو. بیا آزمایښت کوونکی ورغی او ورته یې وویل: (که چیری ته د خدای زوی یې نو دې کاڼو ته ووایه چې ډوډۍ شي.) عیسی ځواب ورکړ: (صحیفې وایي چې انسان تش په ډوډۍ نه پایي خو هغه په هره هغه خبره پایي چې د خدای له خولې څخه ووځي.)
(متی ۴: ۱ - ۱۱)

شیطان د لوی ځواک خاوند دی مګر هیڅکله نه شي کولی چې د پاک خدای سره برابري وکړي، بلکې هغه د لوی خدای تر کنټرول لاندې دی. مسیحیان باید له شیطان او هغو ارواو څخه چې د شیطان تر ولقې لاندې دي ویره و نه لري ، ځکه چې کولای شو د هغه ځواک په وسیله چې مسیح مونږ ته راکړی د شیطان په مقابل کې ودریږو او هغه له ځایه لیرې کړو. (په پای کې به لوی خدای شیطان په ابدي اور وسوزوي.) (مکاشفه ۲۰ : ۱۰)

## ۵- د مسیحیانو سپیڅلي کتابونه کوم دي؟

ګرانه! اوس به د مقدسو کتابونو په باب خبرې وکړم او پدې هکله به ستا پوښتنې ته ځواب ووایم. لکه څرنګه چې پوهیږې مسیحیان او یهودیان له ډیر وخت څخه (اهل کتاب) بلل کیږي او دا نوم په حقیقت کې ډیر معقول او پر ځای دی، ځکه چې یهودیانو او مسیحیانو د سپیڅلي کتاب د ساتنې لپاره تل خپله ژوره مینه او پلوي ثابته کړې ده.
هغه کتابونه چې مسیحیان یې پاک ګڼي کوم دي؟ د مسیحیانو سپیڅلی کتاب له ۶۶ کتابونو څخه جوړ شوی دی او له ټولو څخه یو ټوک راوتلی چې د سپیڅلي کتاب په نوم یادیږي، دا سپیڅلی کتاب په دوو برخو ویشل شوی چې د پخواني تړون او نوي تړون په نوم یادیږي، اوس د دې دواړو برخو په باره کې په جلا ډول خبرې کوو.

## الف: پخواني تړون

دا برخه له ۳۹ کتابونو څخه جوړه شوې ده چې ټول د مسیحیانو او یهودیانو لخوا د سپیڅلو کتابونو په صفت منل شوي دي، دا کتابونه په عبراني ژبه د مختلفو لیکوالو له خوا تقریباً زر کلونه وړاندې لیکل شوي دي، لومړني پنځه کتابونه د تورات یا پنځه ګونو کتابونو په نوم یادیږي، د دې کتابونو محتویات د موسی او نورو هغو کسانو له خوا له پخوانیو مدارکو څخه راټول شوي چې خدای هغوی ته ښودلي وو. لومړی کتاب پیدایښت نومیږي چې د دنیا د منځ ته راتلو په هکله څرګندونې کوي، د آدم او حوا او د نوح د طوفان په باره کې خبرې کوي، همدارنګه مونږ ته وایي چې څرنګه ابراهیم له میلاد څخه دوه زره کلونه وړاندې د پاک خدای له فرمان سره سم خپل وطن (عراق) پریښود او فلسطین یعنې هغه ځای ته چې پاک خدای هغه ته وعده ورکړې وه ولاړ، همدارنګه دا کتاب د اسحاق او یعقوب په هکله څرګندونې کوي ، او د یوسف کیسه بیانوي کوم چې د خپلو وروڼو لخوا د یو مریی په شان خرڅ شو او وروسته د فرعون وزیر شو.

تورات وایي چې پاک خدای څنګه موسی ته ځواک ورکړ تر څو د اسرائیلو د قوم (کوم چې د یعقوب له دولسم پښت څخه دی) مشري او لارښوونه وکړي، او څرنګه یې دوی له میلاد څخه تقریباً ۱۳۰۰ کلونه وړاندې له مصر نه وویستل او کنعان ته یې راوستل، پدې کتابونو کې هغه ټول قوانین شته چې پاک خدای د سینا په غره کې د موسی په واسطه اسرائیلو ته رالیږلي وو.

له تورات څخه وروسته یو څه نور تاریخي کتابونه هم شته چې وایي، څرنګه د اسرائیلو قوم د یوشع بن نون تر رهبرۍ لاندې کنعان فتح کړ او څرنګه خدای تعالی له میلاد څخه زر کلونه وړاندی سموئیل نبي راولیږه او داود یې د اسرائیلو پادشاهۍ ته ورساوه.

دا کتابونه مونږ ته وایي : داود چې هم نبي او هم پادشاه و څرنګه یې خپلو دښمنانو ته ماتې ورکړه او څرنګه د ده زوی سلیمان په اورشلیم کې د خدای د عبادت لپاره یو لوی د عبادت ځای جوړ کړ؟ له سلیمان وروسته اسرائیل په دوو برخو وویشل شول او د سلیمان زامنو په اورشلیم کې د یهودا پر قبیلې واکمني وکړه، تر څو چې اورشلیم په ۵۸۶ م م کې د بابل د پادشاه لخوا ونیول شو، ډیر یهودیان بندیان شول، عراق او ایران ته یوړل شول او له پنځوسو کلونو وروسته د ایران پادشاه کورش بابل فتح کړ، هغه یهودیانو ته امر وکړ چې بیرته اورشلیم ته راشي او د خدای وران شوی د عبادت ځای جوړ کړي، دوی دا کار وکړ خو له ۵۸۶ م م وروسته نور د داود له نسل څخه چا پر یهودو پادشاهي ونکړه، ځکه چې اسرائیل د پردیو تر لاس لاندې وو.

د پخواني تړون له کتابونو څخه وروسته د اشعارو کتابونه دي چې له هغې جملې څخه د ایوب کتاب، د داود زبور، د سلیمان امثال او داسې نور دي، لدې وروسته هغو شپاړسو کتابونو ته رسیږو چې د مختلفو انبیاؤ په قلم لیکل شوي دي، له هغې جملې څخه اشعیا، ارمیا، حزقیال، دانیال، میکا، زکریا، او ملاکي دي، دې انبیاؤ د ۸۰۰ او ۴۰۰ م م کلونو تر منځ په یهودیه کې ژوند کاوه، داسې معلومیږي چې د ۴۳۰ م م څخه تر ۲۶ میلادي کال پورې له ملاکي نبي څخه وروسته د یحیی تر راتلو خدای بل نبي نه دی رالیږلی.

## ب: نوی تړون

هغه کتابونه چې نوی تړون جوړوي ۲۷ کتابونه دي، دا کتابونه د لسو لیکوالانو لخوا د عیسی مسیح له مرګ او راپورته کیدو وروسته د پنځوسو کلونو په موده کې په یوناني ژبه ولیکل شول، د پخواني تړون اصطلاح د خدای هغې وعدې ته اشاره ده کومه چې خدای د موسی په واسطه له خپل قوم اسرائیلو سره کړې وه (خروج ۲۴: ۱ - ۸). نوی تړون د خدای هغې ژمنې ته اشاره ده کوم یې چې له خپل نوي قوم سره کړېده، یعنې هغه خلک چې پر عیسی مسیح ایمان راوړي . (ارمیا ۳۱: ۳۱ - ۳۴، لوقا ۲۲: ۲۰).

د نوي تړون لومړني څلور کتابونه (انجیلونه) نومیږي، په یوناني ژبه انجیل زیری ته وایي، دا څلور کتابونه د بیلابیلو کسانو په واسطه لیکل شوي دي، او هر یو یې پخپل ذات کې د عیسی د ژوندانه او لارښوونو په هکله ځانګړی کتاب دی، دا څلور کتابونه له یو بل سره کوم توپیر نلري بلکې یو د بل بشپړوونکي دي، دغه څلور کتابونه د هغه یو عکس په څیر دي چې له څلورو زاویو څخه له یو سړي نه اخیستل شوي وي، د نوي تړون پنځم کتاب د رسولانو اعمال دی، دا کتاب د عیسی له مرګ څخه وروسته د دیرشو کلونو په موده کې له اورشلیم څخه تر روم پورې د مسیحیت وده او خپریدل بیانوي، دا کتاب په خاصه توګه د عیسی د رسولانو یعنې پطروس او پولوس په هکله شرح ورکوي.

وروسته بیا یوویشت لیکونو ته رسیږو چې د پطروس، پولوس او یوحنا په واسطه لیکل شوي دي، دا لیکونه د روم په ځینو ښارونو کې ځینو مسیحي غړو او یا ځانګړو خلکو ته لیکل شویدي، په لیکونو کې د دې خبرې وضاحت شوی چې مسیحیان باید څه ډول ایمان ولري او څرنګه ژوند وکړي؟ وروستي کتاب چې مکاشفه نومیږي د یوحنا رویاوې بیانوي، دا کتاب راښایي چې څه ډول جزاګانې د بې ایمانو خلکو انتظار کوي ، همدا رنګه د عیسی وروستی برې، د خدای تل پاتې پادشاهي، جلال او لوړ والي بیانوي. که څه هم یهودیان او مسیحیان پخواني تړون مني او درناوی یې کوي خو یهودیان نوې تړون د خدای لخوا نه ګڼي.

شاید اوس وغواړې تر څو وپوهیږې چې له سپیڅلي کتاب یا هغه کتاب څخه چې خدای له خپل لوري رالیږلی د مسیحیانو موخه څه ده؟ له هر څه وړاندی باید ووایو چې مونږ مسیحیان عقیده نلرو چې دا کتاب خدای د هغې لیکونکو ته رالیږلی، لکه یو رییس چې

خپل منشي ته د مکتوب ليکنې لپاره ووايي، ځکه کله چې مونږ دغه کتابونه لولو نو وينو چې دا کتابونه د ليک او سبک له مخې يو ډول ندي ليکل شوي، لکه چې داود د سليمان په څير ونه ليکه، او د پولوس ليکنه له يوحنا سره توپير لري ځکه هر يو ځانته شخصيت لري او د دوی ليکنې هم توپير لري، کيدايشي پدې صورت کې دا پوښتنه پيدا شي چې دا کتابونه به هم لکه د نورو کتابونو پشان چې د خلکو په واسطه ليکل شوي دي غلطي ولري؟ نه، هيڅکله داسې نه ده، که څه هم دا کتابونه د اشخاصو له خوا ليکل شوي خو مسيحيان هغه د خدای کتابونه بولي او عقيده لري چې خدای دغو کسانو ته د خپل روح پواسطه لارښوونه کړی وه تر څو په خپلو ليکنو کې هيڅ ډول غلطي ونلري، مونږ عقيده لرو چې سپيڅلي خدای انبياؤ ته خپله سپيڅلې اراده او آسماني حقيقتونه ور وپيژندل ترڅو هغوی وکولی شي د هغه پيغام په ښه توګه د خلکو غوږونو ته ورسوي، همدغه راز خدای خپل حقيقت هغه چا ته وښود چې غوښتل يې دا کتاب وليکي، هر يو ليکونکي د خدای په امر او لارښوونه له خپل قلم او انساني خصوصياتو سره د خدای کلام مونږ ته وليکه، په سپيڅلي انجيل کې داسې لولو: (ځکه چې هيڅکله نبوت د انسان په اراده ندی راغلی بلکې خلکو د روح القدس د اغيزې په وجه د خدای له لوري خبرې کولې .)

(دويم پطروس ۱: ۲۱.)

هغوی د خدای پيغام بيان کړ او همدارنګه يې هغه وليکه، نو ځکه ويلای شو چې سپيڅلی کتاب د خدای ليکل شوی کلام دی، پدې توګه مونږ مسيحيان عقيده لرو چې سپيڅلی کتاب د دنيا له نورو کتابونو سره بشپړ توپير لري، مونږ عقيده لرو هغه څه چې بايد د خدای په هکله پرې وپوهيږو پدې کتاب کې موندل کيږي او د دې کتاب په وسيله د خدای او انسانانو په هکله خپله دنده موندلی شو، ځکه دا کتاب د ژغورونکي يعنې عيسی مسيح په هکله خبري کوي او هغه يواځينی کس دی چې کولايشي ګناهګاران بدل کړي او دنيا په هغه انځور جوړه کړي کوم چې خدای غواړي.

**اوس څو ټکي تشريح کوو:**

۱ - لومړی ټکی دا دی چې که څه هم په ټوله دنيا کې بيلابيلې ډلې شتون لري، مګر دوی ټول د ۶۶ کتابونو پر ريښتينولی او حقانيت ايمان او عقيده لري او دا کتابونه د ژوند د لارې او اعتقاداتو د لارښوونې لپاره ځانګړي کتابونه ګڼي.

۲ - مسيحيان پدې عقيده نه دي چې وروستنيو کتابونو مخکيني کتابونه منسوخ کړي او يا يې د هغو ځای نيولي دي، ځکه مونږ عقيده نلرو چې انجيل د تورات ځای نيولی دی، عيسی مسيح ويلي دي: (دا فکر مه کوئ چې ګوندې زه د دې لپاره راغلی يم تر څو شريعت او د نبيانو کتابونه منسوخ کړم، زه د منسوخ کولو لپاره نه بلکې د پوره کولو لپاره راغلی يم). (متی ۵ : ۱۷)

لکه څرنګه چې د لسم ټولګي کتابونه د ټيټو ټولګيو کتابونه نه باطلوي بلکې هغه بشپړوي، په هماغه ډول د خدای کلام مخکيني کتابونه نه باطلوي کوم چې د خدای په واسطه رالیږل شوي بلکې د خدای پيژندنې په لار کې انسان ته پوره پوهه ورکوي، نو مونږ مسیحیان دا ټول کتابونه لولو تر څوهغه ټول تعلیمات چې خدای یې زمونږ څخه غواړي په ښه توګه زده کړو. که څوک کوم کتاب ولیکي او د خدای د سپیڅلي کتاب سره سم نه وي نو مونږ پوهیږو چې داسې کتاب د خدای لخوا څخه نه دی، ځکه خدای د خپل کلام پر خلاف څه نه وايي.

۳ - که چیرې چا تاسو ته ویلي وي چې د مسیحیانو کتاب اصلي نه دی او اعتبار نلري نو دا زه په ډاډ سره ويلی شم چې دا یو تور او تهمت دی، هیڅ اساس او حقیقت نلري، مسیحیانو ته خپل سپیڅلی کتاب ګران دی او هغوی هیڅ چا ته اجازه نه ورکوي چې هغه له منځه یوسي او یا هغه بدل کړي. سربیره پر دې د سپیڅلي کتاب خطي نسخې هم شته چې په یوناني، عبراني او اریمیک ژبو باندې لیکل شوي دي او د هغوی له عمر څخه ۱۶۰۰ کلونه تیر شوي دي او د سپیڅلي کتاب اوسنۍ ترجمه د همدغو نسخو څخه تر سره کیږي. لوی خدای خپل کلام ټول بشر ته رالیږلی دی، مسیحیانو ډیر کوښښ کړی چې دا سپیڅلی کتاب د نړۍ په ټولو ژبو باندې وژباړي تر څو د دنیا ټول خلک هغه په خپلې مورنۍ ژبه ولولي، سپیڅلی کتاب د دنیا په ۱۶۰۰ ژبو ژباړل شوی او خپور شوی او دا حقیقت ټولو ته څرګند شوی چې په ټولو ژبو کې د خدای پیغام یو دی. آیا تاسو پوهیږئ چې د خدای کتاب هر کال د نورو کتابونو په پرتله په دنیا کې پر ډیرو خلکو ویشل کیږي؟ دا په ډاډ ویلی شم که چیرې خلک پدې عقیده وي چې دا کتاب ریښتیا او حق نه دی نو دومره غوښتونکي به یې نه درلودل، دا له امکان څخه لیرې ده چې خدای خپل کلام د بشر د لار ښوونې لپاره ولیږي او بیا اجازه ورکړي چې دا کتاب بدل او بندګان یې بې لیارې شي. خیر په هر صورت لوی خدای خپل سپیڅلی کتاب د زرګونو کلونو له تیریدو وروسته ساتلی او لدې وروسته به یې هم وساتي، لدې کبله دا کتاب د اعتماد وړ دی.

۴ - د ۶۶ کتابونو په هکله یو عجیب او د پاملرنې وړ ټکی دا دی چې دا کتابونه که څه هم په بیلابیلو دورو کې د بیلابیلو لیکوالانو لخوا په ۱۵۰۰ کلونو کې لیکل شوي خو د ټولو پیغام یو دی، دا ټول کتابونه وايي چې خدای څوک دی، له بشر څخه څه غواړي او د ګناهکار بشر لپاره یې څه کړي دي؟ له دې څخه معلومیږي چې د دې کتابونو اصلي لیکونکی خدای دی، نه بشر.

۵ - د سپیڅلي کتاب په هکله د پاملرنې وړ بل ټکی دا دی چې پوهیدل پرې ډیر آسانه دي، که څه هم دا کتابونه په لرغونو ژبو باندې لیکل شوي خو په اوسنۍ هره ژبه باندې ژباړل کیدایشي او هر څوک چې لږه زده کړه هم ولري کولای شي چې ویې لولي او ګټه ترې پورته کړي، ما څو څو ځلې اوریدلي چې د دنیا په ډیرو لیرو پرتو سیمو کې ښځو او

نارینه و له ښوونکی پرته د سپیڅلي کتاب یوه برخه لوستلې، لوی خدای یې پیژندلی او له خپلو ګناهونو څخه یې توبه ویستلې ده. که څه هم لویو لویو استاذانو د خدای د کلام د پیژندلو او روحاني ودې په هکله ښه کتابونه لیکلي او د مسیحي کلیساګانو د شورا اعتقاد نامې یې هم لیکلي دي تر څو ایماندارانو ته حقیقت او نیغه لیار ور وښاي خو که څوک سپیڅلی کتاب په ځیر سره ولولي نو و به ویني چې دا کتاب خپل مطلبونه پخپله واضح او روښانه کوي.

سپیڅلی کتاب مونږ ته هغه څه رازده کوي چې د لوی خدای د پیژندنې لپاره اړین دي، زمونږ د خلاصون او د خدای د مخلوق د خدمت په برخه کې مونږ ته بشپړ معلومات په لاس کې ږدي، لدې کبله هر مسیحي دا ویاړ لري چې سپیڅلی کتاب ولولي او د نورو مسیحیانو په مرسته او د روح القدس په لار ښوونه خپل ځان ته بدلون ورکړي، ډیر مسیحیان دا عادت لري چې هره ورځ د سپیڅلي کتاب یوه برخه لولي او د هغې د تعلیمونو په هکله له ځان سره فکر وکړي.

تاسو به حیران شئ چې ولې ما تر اوسه ندي ویلي چې انجیل د عیسی مسیح په واسطه لیکل شوی او یا دا چې د خدای په واسطه عیسی مسیح ته ورکړل شوی دی، تر هغه ځایه چې زه پوهیږم عیسی مسیح هیڅ کوم کتاب نه دی لیکلی او هیڅ کتاب یې هم په لاس کې نه و چې د خدای لخوا ور ته ورکړل شوی وي، دا ټکی به وروسته څرګند کړم چې عیسی د لوی خدای ژوندی کلام دی او لوی خدای د هغه د شخصیت، عمل او څرګندونو په ذریعه خپله له خلکو سره خبرې وکړې، هغه د خدای پوره ځلا او ښکارندوی و، لدې کبله لوی خدای متی، یوحنا، پولوس او نورو شاګردانو ته لارښوونه وکړه تر څو دا کتاب چې د عیسی تصویر دی مونږ ته ولیکي، دا کتاب زمونږ سره مرسته کوي چې د عیسی مسیح ځیره وګوړو او د خدای پیغام چې د هغه په وسیله مونږ ته رسیږي واورو.

ګرانه! له هغه څه څخه چې مې لیکلي دي په ښه توګه وګوره چې سپیڅلی کتاب ډیر اهمیت لري او پر هر چا لازمه ده چې هغه په غور سره ولولي او یا د هغې مطالبو ته غوږ ونیسي، ځکه چې د دې پواسطه د خلاصون لاره پیدا کولی شو، هیله لرم چې تر هر څه دمخه یو ټوک نوی تړون پیدا کړې او هغه ولولې او له هغې وروسته پخوانی تړون ته رجوع وکړې، ځکه چې د نوی تړون په لوستلو سره به د پخوانی تړون په مقصد باندې ښه وپوهیږې، هیله لرم چې لوی خدای د سپیڅلي کلام د هرې پاڼې په لوستلو له تاسو سره خبرې وکړي.

## ۶ ـ عیسی مسیح څنګه وزیږید او څه یې وکړل؟

ګرانه! اوس د مسیحي ایمان د شرحې ډیر مهم ځای ته رسیږو او هغه لدې څخه عبارت دی چې عیسی مسیح څوک دی ، له خدای او انسان سره د هغه اړیکه څه ده؟ او د

مځکې پر مخ د  هغه د ژوند یوه لنډه شرحه به بیان کړو کومه چې په څلوروګونو انجیلونو کې ذکر شویده.
یوه ورځ جبرائیل یوې پیغلې ته چې مریمه نومیده خبر ورکړ چې د یو زوی خاونده به شي او د هغه نوم به عیسی کیږدي، هغه به د لوی خدای زوی ونومول شي او د هغه پاچاهي به د تل لپاره وي.  (لوقا ۱ :    ۲۶ - ۳۸)
دا پیښه د اشعیا نبي د هغې وړاندوینې نتیجه وه کومه یې چې اوه سوه کاله مخکې کړې وه :  (ګورئ یوه پیغله به امیدواره شي او زوی به وزیږوي او د هغه نوم به عمانوئیل کیږدي).  (متی ۱ :  ۲۳ او اشعیا  ۷ :  ۱۴.)

لدې وروسته عیسی مسیح په بیت اللحم نومې کلي کې چې د اورشلیم ښار ته نژدې و او داود نبي زر کلونه وړاندې په هغې کې دنیا ته راغلی و وزیږید.  په بیت اللحم کې د عیسی مسیح زوکړه  د میکا نبي په واسطه پیشګویي شوې وه، کوم چې  د مسیح له زوکړې اوه سوه کلونه مخکې ژوند کاوه (اې د افراتې بیت اللحمه! که څه هم ته په یهودیه کې یو کوچنی کلی یې، خو ستا څخه به هغه سردار راووځي چې زما د قوم بني اسرائیلو شپون به وي). (متی ۲: ٦  میکا ۵ :  ٦.)

د عیسی مسیح د پیدایښت پر مهال یوې فرښتې دا پیښه بیت اللحم ته نژدې شپنو ته اعلان کړه او داسې یې وویل:  مه ویریږئ!  ما تاسو ته د لویې خوښۍ یو زیری راوړی چې د ټولو خلکو لپاره دی، چې همدا نن د داود په ښار کې ستاسو لپاره یو ژغورونکی چې مسیح مالک دی وزیږید).  (لوقا ۲ :  ۱۰ - ۱۱)

مریم له یوسف سره واده وکړ او یوسف هم د عیسی سرپرستي په غاړه واخیسته، عیسی مسیح د خپلې ځوانۍ پر مهال د ناصریې په ښار کې د ترکانۍ په کار بوخت و، هغه تر دیرش کلنۍ پورې هیڅ ډول تعلیم ور نه کړ،هیڅ معجزه یې و نه ښودله او خلک هم نه پوهیدل چې هغه هماغه ژغورونکی عیسی دی چې دوی یې په انتظار کې دي. کله چې عیسی مسیح دیرش کلن شو نو د هغه خدمت لپاره یې ملا وتړله  د کوم لپاره چې دې دنیا ته راغلی و، لدې کبله یې د ناصریې ښار پریښود او یحیی ته ورغی، په هغه وخت کې یحیی د لوی خدای پیغام هغو خلکو ته چې د هغه په خوا و شا کې اوسیدل رساوه، هغوی یې توبې کولو ته رابلل او  هغه چا چې توبه ویستله نو له ګناه څخه د پاکۍ په موخه یې د اردن په رود کې تعمید ور کاوه.  که څه هم عیسی مسیح په ټول ژوند کې کومه خطا نه وه کړې خو له یحیی څخه یې وغوښتل چې هغه ته هم په اوبو کې غوټه  (تعمید)  ور کړي او یحیی هم دا کار وکړ، هغه وخت چې عیسی مسیح له اوبو څخه راووت، روح القدس د

یوې کوترې په څیر له آسمانه راغی او پر هغه کښیناست او له آسمان څخه یو غږ راغی
چې ویل یې: (دا زما خوږ زوی دی چې پر ما ډیر گران دی او زه ترې راضي یم)
(متی ۳ : ۱۷.) [د زوی د لفظ معنی به وروسته تاسو ته تشریح شي].

له هغې وروسته عیسی مسیح بیدیا ته ولاړ، هلته یې څلویښت ورځې روژه ونیوله او دعا یې وکړه، په دغه وخت کې شیطان کوښښ وکړ چې عیسی تیر باسي او له خدای څخه یې واړوي خو کامیاب نه شو. (متی ۴ : ۱ - ۱۱) لدې وروسته کله چې عیسی پر شیطان بریالی شو بیرته یحیی ته ورغی، هغه وخت چې یحیی عیسی مسیح ولید نو خپلو شاگردانو ته یې وویل : وگورئ! د خدای گډوری چې د دنیا گناه په ځان وړي. ما دا پخپله ولیدل او زه پدې گواهي ورکوم چې دا د خدای زوی دی. (یوحنا ۱ : ۲۹ او ۳۴) لدې څخه د یحیی مقصد چې عیسی مسیح د خدای گډوری بولي دا دی چې عیسی به د بشر د گناهونو لپاره قرباني ورکړي. پس لدې عیسی مسیح د شاگردانو په ټاکنې پیل وکړ او د هغوی له منځ څخه یې دولس کسان د شاگردانو په توگه وټاکل، دا خلک د لوړو تحصیلاتو خاوندان نه وو، پطروس او یوحنا کب نیوونکي وو او متی هم یو مالیه اخیستونکی، خو هغوی پوه شول چې عیسی مسیح هماغه ژغورونکی مسیح دی، له همدې کبله یې خپل کارونه پریښودل او پرته لدی چې د پیسو او شتمنۍ په غم کې شي له عیسی مسیح څخه یې د درې کلونو لپاره پیروي وکړه او هر چیرته پیاده تلل، په دغه وخت کې عیسی مسیح دوی د هغه کار لپاره چې دوی باید آسمان ته د مسیح تر پورته کیدو وروسته تر سره کړیوای تیار کړل، تر دی وروسته عیسی مسیح د یحیی پشان په تبلیغ پیل وکړ او ویې ویل: وخت پوره شو، د خدای پاچاهي په تاسو راتلونکې ده، توبه وباسئ او پر زیری ایمان راوړئ. (مرقس ۱ : ۱۵)

عیسی مسیح خلکو ته د خدای کلام په عبادت ځایونو، د هغوی په کورونو، پر غونډیو، د جلیل د رود پر غاړه او په هغو ځایونو کې بیانوه چیرې به چې ترې دوی راټاو شویوو، هر چا چې د ده خبرې اوریدلې نو د ده حکمت او ځواک ته چې په خبرو کولو کې یې درلوده حیرانیدل، ځکه چې هغه د پیغمبرانو په شان نه بلکې د خدای په شان خبرې کولې، ټولو انبیاؤ ویلي وو : واورئ چې خدای تاسو ته وایي، خو کله چې عیسی مسیح خبرې کولې نو هغه به ویل : واورئ هغه څه چې زه درته وایم.

عیسی مسیح سمدستي ناروغانو ته په شفا ورکولو پیل وکړ او هغوی یې د خپل کلام او یا لاس ایښودلو په واسطه روغول. عیسی ته یو جزامي راغی، د هغه په پښو پریوت او غوښتنه یې ترې وکړه چې: (که ته وغواړې نو ما پاکولی شې). د عیسی زړه پر هغه

وسوزید، خپل لاس یې ور اوږد کړ او ویې ویل :(بې شکه زه غواړم، پاک شه) خپل لاسونه یې د جزامي سړي پر مخ کیښودل او هغه سړی روغ شو. (مرقس ۱ : ۴۰ - ۴۲)

ډیر خلک چې د ناپاکو ارواو څخه په عذاب وو مسیح ته راغلل او عیسی مسیح د خپل کلام په واسطه ناپاک روحونه له هغوی څخه راویستل، هغه چې وړاندې ړانده وو، په سترګو یې لاس کیښود او سمدستي بینا شول. هغه څو تنو مړو ته ژوند ورکړ، طبیعتاً خلک هغه پسې روان شول او عیسی مسیح خلکو ته په شفا او تعلیم ورکولو دومره بوخت و چې د ډوډۍ خوړلو وخت یې هم نه درلود، هغه خپلې شخصي اړتیاوې هیري کړې وې، ځکه چې هغه تل له نورو سره د مینې په فکر کې و، د خپلې شخصي ګټې لپاره یې یو ځل هم معجزه و نکړه او هیڅ کله یې خپل ځواک د خلکو د حیرانولو لپاره استعمال نکړ، د عیسی مسیح ټولې معجزې د ناروغانو د شفا او خلاصون لپاره وې، تر څو پدې توګه د خدای مینه هغوی ته څرګنده کړي، یوه ورځ کله یې چې فقیر او محتاجه خلک پخپل خوا و شا کې ولیدل نو هغوی یې په ډیرې مینې سره راوغوښتل او ورته یې وفرمایل : (اې ټولو خواریکښو او هغو چې پیټي مو درونډ دی! زما خوا ته راشئ ، زه به تاسو ته آرامي دروبښم.) (متی ۱۱ : ۲۸)

له هغو ټولو خلکو څخه یې چې ده ته ورغلل هیڅوک نا امیده پرې نه ښودل، یو ځل څلورو کسانو یو فلج سړي عیسی ته راوست او د ده تر مخ یې کیښود، عیسی مسیح پوهیده چې دا سړی پر جسمي شفا سربیره روحي شفا ته اړتیا لري، نوهغه ته یې وویل : (زما زویه! ستا ګناهونه وبښل شول). ځینې مذهبي ښوونکي چې هلته وو له ځان سره یې وویل: (دا سړی ولې داسې خبرې کوي؟ دا خو کفر دی، آیا له خدای پرته بل څوک د چا ګناهونه ببښلی شي؟) عیسی سمدستي پوه شو چې دوی په زړه کې څه خیال کوي او هغوی ته یې وویل : (تاسو ولې په زړه کې داسې خیالونه راولئ؟ آیا دا خبره آسانه ده چې زه دې شل سړي ته ووایم چې ستا ګناهونه وبښل شول، او که زه دا ووایم چې پاڅه خپل کټ واخله او روان شه؟ خو ستاسو د پوهولو لپاره چې د انسان زوی پر مځکه هم د ګناهونو د ښنلو واک لري)، هغه شل سړي ته مخ راواړوه او ورته یې وویل، (زه تاته وایم! را پورته شه! خپل کټ واخله او کور ته ولاړ شه.) هغه پاڅید، سمدستي یې خپل کټ واخیست او د ټولو په مخ کې روان شو، پدې ډول هغوی ټول حیران پاتي شول او د خدای ثنا یې وویله، دوی وویل چې: (داسې کار خو مونږ چیرې هم نه و لیدلی.)

(مرقس ۲ : ۱ - ۱۳.)

تر دې وروسته د یهودو مشران د عیسی مسیح په مخالفت کې را پورته شول، ځکه چې دوی د خلکو په منځ کې د عیسی مسیح محبوبیت نه شو زغملی، هغوی به ویل چې هغه له ګناهګارانو سره ناسته ولاړه لري، غواړي چې هغوی ته خلاصون ورکړي او د سبت

(خالي) په ورځ چې د یهودو مقدسه ورځ ده ناروغانو ته شفا ورکوي. د هغوی کرکه دومره زیاته شوه چې فیصله یې وکړه ترڅو عیسی ووژني. (مرقس ۲ : ۱۵ او ۳: ٦.)

عیسی لدې موضوع څخه خبر و او په هغه قدرت چې ده مړي ژوندي کول، کولای یې شول چې خپل شریر دښمنان هم ووژني، مګر دا کار یې و نه کړ، هغه خپلو شاګردانو ته تعلیم ورکاوه چې له خپلو دښمنانو سره هم مینه وکړي او هغوی ته دعا وکړي، هغه سلوک چې ده له خپلو دښمنانو سره کاوه، د هغه شاګرانو ته لوی مثال و.
په هغه زمانه کې د یهودو قوم آزاد نه و او رومیانو پر هغوی حکومت کاوه، یهودیانو زیاته هیله درلوده چې د رومیانو له اسارت څخه ووځي، هغه وخت چې یهودیانو ولیدل چې عیسی مسیح په پنځو ډوډیو او دوو کبانو پنځه زره کسانو ته ډوډی ورکړه نو دوی ډیر زیار وویست چې عیسی مجبور کړي ترڅو د هغوی پاچا شي. (یوحنا ٦ : ۱ ـ ۱۵)

هغوی یقین درلود چې که چیرې عیسی مسیح خپلو سپاهیانو ته امر وکړي نو هیڅوک به د هغوی مخه و نشي نیولی، عیسی مسیح ولې له دنیاوي پاچاهۍ څخه ډډه وکړه؟
دلیل دا دی چې د هغه سلطنت روحاني او معنوي و، هغه غوښتل چې د خلکو پر زړونو حکومت وکړي نه پر هغه تخت باندې چې په اورشلیم کې و. کله چې یهودیان پوه شول چې مسیح د خپلو مقاصدو لپاره نشي استعمالولی نو ډیر یهودیان د هغه په مخالفت او دښمنۍ راپورته شول، عیسی مسیح غوښتل چې د خدای رضا او اراده تر سره کړي نه د انسان.
د تعمید له غسل څخه نژدی دوه نیم کلونه وروسته کله چې د یهودو مشرانو دښمني له عیسی سره سخته شوې وه، یوه ورځ عیسی مسیح له خپلو شاګردانو څخه پوښتنه وکړه: خلک څه وایي چې د انسان ځوی څوک دی؟ ( عیسی مسیح څوک دی؟) هغوی ځواب ورکړ: (ځیني وایي چې تعمید ورکوونکی یحیی، ځیني وایي الیاس، ځیني وایي ارمیا او یا له انبیاؤ څخه بل څوک.) هغه ورته وویل: (تاسو څه وایاست، چې زه څوک یم؟) شمعون پطروس ځواب ورکړ (ته د ژوندي خدای زوی مسیح یې.)
بیا عیسی وویل (اې د یوحنا زوی شمعونه! ته بې شکه بختور یې، زه پر تا باندې د پطروس یا ګټ نوم ږدم، او زه به خپله کلیسا پر دې ګټ آبادوم، مرګ به هیڅکله په ده غالب نه شي.)

وروسته یې خپلو رسولانو ته وویل چې هغه به اورشلیم ته ولاړ شي، د مذهبي چارواکو له لوري به په مرګ محکوم شي او پر صلیب باندې به ځوړند کړایشي، مګر په دریمه ورځ به راژوندی شي، د ده شاګردانو چې ورسره یې ډیره مینه درلوده غمژن شول او

پطروس عیسی مسیح ته وویل: (خدای دې نه کړي مالکه! په تا دې داسې هیڅکله هم و نه شي.) عیسی مسیح وویل: دا خبره شیطاني ده، ګوره چې بیا یې و نکړې، ځکه چې عیسی مسیح پوهیده چې دا د خدای اراده ده چې هغه به د ګناهګارانو لپاره پر صلیب باندې ځان حق ته وسپاري او څوک چې هغه لدې لارې څخه منع کوي د شیطان د لاس آله ده.

عیسی خپلو شاګردانو ته وویل چې دوی هم باید د خپل صلیب د وړلو لپاره تیار وي او د ده په لار کې د خپل ځان له قربانولو څخه ډډه ونکړي. (متی ۱۶ : ۱۳ - ۲۶)

وروسته لدې چې شاګردانو واوریدل چې د هغوی استاذ باید مړ شي او دوی هم باید د هغه لپاره ډیر رنځونه وزغمي، بې شکه دوی ته ډیره سخته وه چې بیا هم د هغه پیروي وکړي، هغوی خپل استاذ یواځې پری نه ښود او شپږ میاشتې پس له هغه سره اورشلیم ته یعني هغه ځای ته چې استاذ یې باید ډیر رنځونه زغملی وای او خپل ځان یې قربان کړی وای ولاړل، په اورشلیم کې د پسرلي موسم پیل شو او ډیر یهودیان له لیري او نژدې څخه اورشلیم ته راتلل تر څو د خپل کلني اختر په جشن کې برخه واخلي، دا جشن دوی په هغه یاد کولو چې څرنګه د اسرائیلو قوم وکولی شول د موسی په لارښوونه د مصر له اسارت څخه خلاص شي، عیسی مسیح او د هغه شاګردان هم د دې جشن د لیدو لپاره هلته حاضر وو. د هغې هفتې پیښې چې د عیسی د ژوند وروستۍ هفته وه په څلور واړو انجیلونو کې په بشپړه توګه بیان شویدي، پدې ځای کې مونږ د هغې یوه برخه تاسو ته بیانوو. د یوې یکشنبې په ورځ کله چې په خر سپور و، د زکریا نبي د وړاندوینی سره سم چې کلونه وړاندې کړیوه عیسی اورشلیم ته راغی، زکریا نبي داسې پیشګویي کړېوه: (د صهیون لور ته وواياست چې ګوره! ستا پاچا ستا څنګ ته در روان دی، په عاجزۍ سره پر خر سپور بلکې یو بار وړونکي کوچې باندې). (متی ۲۱: ۵ او ذکریا ۹ : ۹)

پس له هغې عیسی د عبادت ځای منځ ته ورننوت او هغه څوک چې دا پاک ځای یې د خرڅولو او اخیستلو په واسطه ناولي کړی و له هغه ځایه وویستل، عیسی مذهبي مشران د هغوی د ریاکارۍ او بې ایمانۍ له کبله محکوم کړل او همدارنګه پیشګویي یې وکړه چې د اورشلیم عبادت ځای به د دوی د ګناهونو له کبله د دښمنانو له خوا وران شي، هغه د دروغژنو انبیاؤ د راتګ او د خلکو د ګمراه کولو لوري ته اشاره وکړه او خلکو ته یې وویل چې لدې ډول انبیاؤ څخه ډډه وکړي، هغه وویل چې له آسمان څخه به بیرته مځکې ته د لوی قدرت سره راشي او د ټولو قومونو پوښتنه به وکړي، څه خلک به ومنل شي او د جنت لور ته به روان شي او څه به د تل لپاره په دوزخ کې وي.

د همدغې اونۍ د پنجشنبې په شپه چې مسیحیان ورته سپیڅلي اونۍ وايي، عیسی مسیح د فسحې اختر د خپلو دولسو شاګردانو سره ولمانځه، پدې وخت کې عیسی یوه ډوډۍ راواخیسته، ټوټې ټوټې یې کړه، د خپلو شاګردانو په منځ کې یې وویشله او ویې ویل : (دا

زما بدن دی چې ستاسو لپاره دی، زما په یاد کې هم دغه شان کوئ)  همدغه راز هغه له خوراک وروسته پیاله راواخیسته او ویې ویل :  (دا پیاله زما په وینه کې نوی تړون دی هر کله چې یې څښئ نو زما په یاد کې دغسی کوئ)  (لومړی قرنتیان۱۱ :  ۲۳-۲۶).

پدې توګه عیسی خپلو شاګردانو ته وویل چې د ده د مړینې سره به نوی تړون منځته راشي.  مخکې لدې چې دوی له خپلې کوټې څخه ووځي، عیسی دوی ته خپل وروستی تعلیم ورکړ او هغوی ته یې وویل:  دوی دنده لري چې له یو بل سره مینه وکړي او بیا یې شاګردانو ته وویل چې دوی باید هغه ټول کړاوونه چې پدې لاره کې ویني وزغمي، سربیره پر دې له هغوی سره یې وعده وکړه چې آسمان ته له تلو څخه وروسته به روح القدس ور  ولیږي، چې له دوی سره مرسته وکړي.
او کله چې نیمه شپه  شوه  نو عیسی خپل شاګردان یو باغ ته بوتلل تر څو په دعا کولو سره خپل ځان د مړینې لپاره تیار کړي، هغه دعا چې عیسی خپل آسماني پلار ته وکړه داسې وه:  (اې پلاره!  که چیرې دا ستا رضا وي نو دا پیاله  زما څخه لیرې کړه، خو زما نه بلکې ستا رضا دې پوره شي.)  هغه وخت چې عیسی په دعا کولو بوخت و څو وسله وال کسان د یهودا په لارښوونه (چې د هغه له دولسو شاګردانو څخه یو شاګرد و او لده سره یې خیانت وکړ)  باغ ته راننوتل.  د شپې په تیاره کې یهودا عیسی ته ورنژدې شو، هغه یې ونیو او ښکل یې کړ، عیسی پرته له کوم مقاومت څخه خپل ځان تسلیم کړ، هغه وخت چې پطروس خپله توره راوویستله او غوښتل یې چې له استاذ څخه دفاع وکړي، عیسی هغه منع کړ او له دښمنانو څخه یو تن ته یې چې پطروس هغه زخمي کړی و شفا ورکړه.  (لوقا ۲۲:  ۳۹- ۵۱).
پس له هغې هغوی عیسی داسې یو ځای ته ویوړ چې ټول مذهبي مشران راټول شوي وو او غوښتل یې چې عیسی په یوه پلمه مړ کړي خو بریالي نه شول، بیا د دوی مشر له عیسی څخه پوښتنه وکړه:  آیا ته د پاک خدای زوی مسیح یې ؟ (مرقوس۱۴:  ۶۱- ۶۴)

په هغه وخت کې  یهودي  حاکمانو نه شو کولی چې د روم د دولت له اجازې پرته څوک اعدام کړي، له همدې کبله یې عیسی د جمعې په ورځ سهار وختي د پیلاطوس قصر ته ویوړ او ورته یې وویل چې عیسی د روم له دښمنانو څخه دی او غواړي ځان پادشاه کړي، نو له همدې امله پیلاطوس له عیسی څخه پوښتنه وکړه، او پوه شو چې دا خبره دروغ ده او په همدې دلیل یې وغوښتل چې دی آزاد کړي مګر یهودي  حاکمانو یوه ټولنه جوړه کړه چې له هغه څخه د عیسی اعدام وغواړي، پیلاطوس لدې وډارید چې کوم اغتشاش جوړ نشي نو د دوی غوښتنو ته یې غاړه کیښوده او امر یې وکړ چې عیسی د اورشلیم له ښار څخه بهر پر صلیب وځړول شي.  کله چې عیسی پر صلیب ځړول کیده

نو هغه چا ته چې دا کار یې کاوه داسې دعا وکړه: (پلاره! دوی وبښه! ځکه دوی نه پوهیږي چې څه کوي.) (لوقا ۲۳: ۳۴)

څه حیرانوونکې مینه ده؟ دا به څوک وي چې له خدای څخه د هغه چا ښښنه وغواړي کوم چې د هغه په لاسونو او پښو میخونه ټک وهي ؟ عیسی کولې شول چې له خپل آسماني پلار څخه یې غوښتلی وای ترڅو لدې رنځ څخه خلاصون ورکړي او آسمان ته یې بوځي خو هغه دا غوښتنه و نه کړه، هغه ښه پوهیده چې د خدای اراده دا وه چې هغه باید په رنځ او کړاو سره مړ او د ګناهکارانو لپاره قرباني شي، په همدې دلیل یې د خپل آسماني پلار حکم ومانه او شاوخوا شپږ ساعته یې په رنځ او کړاو کې تیر کړل، بیا د ماسپیښین په دریو بجو کې یې داسې وویل: (اې پلاره! زه خپل روح ستا لاسونو ته سپارم.)

(لوقا ۲۳: ۴۶ )

هغه لدې خبرې وروسته مړ شو، بیا یو سپاهي د عیسی څنګ ته ودرید او افسر پیلاطوس ته یې خبر ورکړ چې عیسی مړ دی، د یهودو دوه تنه مشران چې پر عیسی باندې یې ایمان راوړی و پیلاطوس ته ولاړل او د عیسی د جنازې غوښتنه یې ترې وکړه، جسد هغوی ته وسپارل شو، هغوی جنازه له صلیب څخه راښکته کړه او هغه یې په عطرو او ادویاتو باندې پټه کړه او د کتان کفن یې ورکړ، د هغه جسد یې په یوه قبر کې چې په یوه ډبره کې کیندل شوی و او د یوه سوري شکل یې درلود دفن کړ، له هغې وروسته د ژرندې د پل په څیر یوه تیږه د سوري پر خولې کیښودل شوه او پیلاطوس حکم وکړ چې هغه ډبره په موم باندې مهر کړي اوسپاهیان دې پر هغې پیره وکړي تر څو څوک قبر خلاص نه کړي.

عیسی په وار وار خپلو شاګردانو ته ویلي وو چې پر صلیب به ځوړند کړایشي او له دریو ورځو وروسته به بیا را ژوندی شي، هغوي فکر کاوه چې ګوندی عیسی د هغوی لپاره کوم مثال بیانوي او کله چې مړ او ښخ شي نو بیا به یې د مځکې پر مخ و نه ویني، مګر د یکشنبې پر سهار کله چې ځینې ملګرې یې د هغه قبر ته ولاړل نو ویې لیدل چې قبر خلاص پروت دی او کله چې قبر ته کوز شول نو هغه کفن چې عیسی پکې تاو شوی خالي پروت و، یعنې د عیسی بدن پکې نه و، عیسی بیرته راژوندی شوی و د ده ځینو شاګردانو هغه ولید او له هغه سره یې خبرې هم وکړې او هغه یې وپیژانده، په هماغه شپه د هغه شاګردان په یوه کوټه کې راټول شوي وو او دروازې یې هم کلکې وې، عیسی کوټې ته ورننوت، دوی ته یې ځان وښود، خبرې یې ورسره وکړې او ډاډ یې ورکړ چې هغه ژوندې دی.

تر څلویښتو ورځو پورې عیسی مسیح خپلو شاګردانو ته په مختلفو ځایونو کې ځان وښوده او دوی ته یې وویل چې ولې دا ضرور وو چې هغه رنځ او کړاو وباسي، هغه خپلو شاګردانو ته وویل چې د دنیا هر ګوټ ته لاړ شئ او خلکو ته دا زیری ورکړئ چې که دوی عیسی مسیح د خپل خلاصوونکي په توګه ومني نو لوي خدای به د هغوی ټول ګناهونه وبښي، هغه خپلو شاګردانو ته وویل چې څو ورځې په اورشلیم کې واوسیږي تر

څو روح القدس پيدا کړي او د خپل کار لپاره تيار شي، په پای کې کله چې هغه خپلو شاګردانو ته وعده ورکړه چې د د دنيا تر پايه پورې به روحاً له دوی سره وي په داسې حال کې چې دوی ورته کتل هغه آسمان ته پورته شو، آسمان ته له تلو څخه وړاندې هغه و نه ويل چې بل څوک به د ده ځای ونيسي، پدې وخت کې د ده شاګردانو په ژړا او زاری پيل و نه کړ ځکه پوهيدل چې هغه روحاً ور سره دی او له وعدې سره سم به يوه ورځ بيرته دنيا ته راشي، هغوی په ډيرې خوشحالي سره دعا وکړه او د روح القدس انتظار يې کاوه، د کومې وعده چې عيسی مسيح ور سره کړې وه. لدې پيښې لس ورځې وروسته د يهوديانو د پنطيکاست د اختر په ورځ د عيسی يو سلو شلو شاګردانو د يوې ټولنې په وخت ناڅاپه يوه عجيبه پيښه وليده، هغوی د باد د آواز په څير يو آواز واوريد مګر هغه باد نه و، هغوی وليدل چې يو شی لکه د اور د لمبې په شان پر هغوی راځي مګر اور نه و، پس له هغې دوی په هغو ژبو باندې چې دوی هيڅکله پرې خبرې نه وې کړې خبرې وکړې، ډير خلک له بيلابيلو ځايونو څخه راټلل، او هر چا به د پاک خدای کلام پخپله مورنۍ ژبه اوريده او ټول لدې پيښې څخه حيران وو، همغه وخت پطروس پاڅيد او ويې ويل: عيسی ولې د خلکو د ګناهونو لپاره مړ شو او خدای بيرته ژوندی کړ؟ ده وويل چې دی او نور رسولان د دې پيښې شاهدان دي چې عيسی مسيح پس له مرګه راژوندی شو او خلکو ته يې وويل چې توبه وکړي او پر هغه ايمان راوړي، ترڅو د دوی ګناهونه وبښل شي. روح القدس د پطروس موعظه وسيله وګرځوله تر څود خلکو زړونه واړوي، لکه څرنګه چې په همدغه ورځ له همدې يهوديانو څخه درې زرو تنو ايمان راوړ او له ګناهونو څخه د پاکۍ په موخه يې د عيسی مسيح په نوم په اوبو کې تعميد واخيست.

او لدې وروسته لکه څرنګه چې عيسی مسيح وړاندوينه کړې وه نو د هغه شاګردانو په اورشليم او نورو ښارونو کې د خلاصون د زيري په ورکولو پيل وکړ او ډيرو خلکو ايمان راوړ، يهودي حاکمانو به هغه کسان کړول کومو چې ايمان راوړی و او ځينې به يې مړه کول، په پای کې د عيسی ډير پيروان له اسرائيلو څخه ووتل او هر چيرې چې تلل د عيسی مسيح زيری به يې خلکو ته رساوه تر دې چې ډيرو يهوديانو ايمان راوړ، بيا خدای پطروس ته لارښوونه وکړه چې د يو يهودي افسر کورته ورشي، ده او د ده کورنۍ ته د خلاصون پيغام وررورسوي، د هغه د کورنۍ ټولو کسانو ايمان راوړ او روح القدس يې ومونده، پدې ډول څرګنده شوه چې پاک خدای غواړي چې ټول خلک، يهوديان او غير يهوديان خلاصون ومومي.

يو تن يهودي چې پولوس نوميده د عيسی د پيروانو ډير سخت دښمن و او د هغه وظيفه د ايماندارانو وژل او بنديانول وو، کله يې چې عيسی وليد چې له آسمان څخه راښکته شو او هغه ته يې وويل: (ولې زما سره جفا کوې؟) هغه چې عيسی مسيح ژوندی وليد نو پر هغه يې ايمان راوړ او عيسی هم هغه له خپلو رسولانو څخه وګرځاوه، بيا هغه د پولس په نامه مشهور شو، يونانيانو او روميانو ته يې د عيسی مسيح د زيري په رسولو کې له ټولو څخه زيات زيار وويست، سربيره پر دې پولوس د نوي تړون ديارلس خطونه په خپلو

لاسونو ولیکل. که چیرې تاسو د عیسی له وژل کیدو وروسته د نوي تړون په وسیله د مسیحیت خوریدل مطالعه کړئ نو و به وینئ چې د عیسی له تګ وروسته د هغه کار پای ته نه دی رسیدلی. هغه څه چې پطروس او پولوس او نورو ایماندارانو سر ته ورسول په حقیقت کې هغه کار و چې عیسی مسیح پخپله د هغوی په واسطه سر ته رساوه. عیسی له مرګ څخه پورته شوی او ژوندی دی، مسیحیان عقیده لري چې عیسی مسیح ځای ناستی نلري ،هغه هر وخت له خپلو پیروانو سره دی، څومره ښه دی چې انسان داسې پیاوړي او مهربان خلاصوونکی ولري چې تل ژوندی او دې ته تیار وي چې له هغو کسانو سره چې په ده باندې ایمان لري مرسته وکړي. له عیسی مسیح وروسته په لومړیو سلو کلونو کې مسیحیت په حیرانوونکي توګه پراختیا ومونده او دا پراختیا نه د جګړې له لارې وه، نه د سیاسي زور اچولو له لارې او نه د مسیحیانو د پوهې او پیسو په زور.
د روم په امپراطورۍ او نورو ځایونو کې ډیرو پر عیسی مسیح ایمان راوړ او پدې توګه د خدای دوستان شول، دا کار د خدای د مینې د زیري د اعلان او د روح القدس د فعالیت په وسیله و چې د اوریدونکو په زړونو او فکرونو کې عملي شو.

## ۷ - عیسی مسیح څوک دی؟

ګرانه! اوس پوهیږم چې غواړې دا پوښتنه وکړې چې ډیر خلک غواړي د هغې په ځواب وپوهیږي، دا د دنیا له مهمو پوښتنو څخه ګڼل کیږي او هغه دا ده چې: دا سړی چې د ژوند حال یې په لنډه توګه دلته نقل شوی څوک دی؟ د دې پوښتنې په باره کې ډیر لوی لوی کتابونه لیکل شوي دي، په څلورو انجیلونو کې چې د عیسی مسیح د ژوند کوم داستان شتون لري له هغې څخه څرګندیږي چې هغه واقعاً یو انسان و، که څه هم هغه جسماني پلار نه درلود مګر د خپلې مور مریم لخوا د اسرائیلو د لوی پاچا داود له کورنۍ څخه و.
پوښتنه دا ده چې عیسی مسیح څوک دی؟ زه به کوښښ وکړم تر څو دا پوښتنه حل کړم، پدې برخه کې یواځینۍ سرچینه د خدای سپیڅلی کتاب دی، ټول هغه شیان چې زه وایم له سپیڅلي کتاب څخه به وي کوم چې د مسیح د ژوند په هکله دي. عیسی د نورو خلکو په شان وده کوله، ډوډۍ یې خوړله، خوب یې کاوه او کسب یې هم ترکاڼي و، هغه د دنیا د خلکو له ټولو ستونزو او خوښیو څخه خبر و، لدې کبله هغه قادر دی چې زمونږ سره په ټولو بشري تجربو کې مرسته وکړي (عبرانیان۲: ۱۸ او ۴: ۱۵).
عیسی انسان و او کولای یې شول چې واده وکړي او اولاد ولري مګر هغه دا کار و نه کړ، د هغه تصمیم د هغه له نقشې سره سم و، کوم چې خدای پاک د هغه لپاره غوره کړی و. که څه هم عیسی مسیح انسان و مګر له ډیرو اړخونو څخه یې له نورو سره توپیر

درلود، لکه څرنګه چې مو مخکې وویل، ډیرو مبارکو خلکو حتی انبیاؤ هم د خدای تعالی له اوامرو څخه غفلت کړی او په همدې دلیل ګناهکاران دي، مګر له عیسی څخه په ټول ژوند کې داسې کار ونه لیدلې شو چې د پاک خدای له ارادې سره مخالفت وکړي، له همدې کبله هغه یواځینی بې ګناه انسان دی. (اول پطروس ۲: ۲۲ اول یوحنا ۳: ۵).
عیسی نه یواځې بېګناه و بلکې د هغه اراده د پاک خدای له ارادې سره سمه وه او په حقیقت کې هغه یواځینی کامل انسان دی چې پدې دنیا کې یې ژوند کړی دی، هغه چا چې د عیسی کارونه ولیدل ګواهي یې ورکړه چې د ده قدرت د حیرانتیا وړ دی، هغه یو وخت یو نابینا چې له موره ړوند پیدا شوی و خپل حضور ته ومانه او بینائي یې ور وبښله، په یو بل وخت کې چې هغه او شاګردان یې په یوه وړه کشتۍ کې سپاره وو او له سیند څخه تیریدل نو سخت طوفان راغې او نژدې وه چې کشتۍ ډوبه کړي مګر عیسی طوفان او باد ته امر وکړ چې آرام شي او سمدلاسه آرام شول، یو سړی چې ایلعازر نومیده او څلور ورځې یې له مرګ څخه تیرې شوې وې له قبر څخه بهر راوغوښت او مړی فوراً له قبر څخه راووت، مګ مسیح تر ټولو لوی کار له خپل مرګ څخه درې ورځې وروسته راژوندی کیدل او له خپل قبر څخه راوتل و لکه څرنګه چې یې پیشګویي کړې وه.

چا له عیسی مسیح پرته داسې اعمال سر ته رسولي دي؟ څوک پیژنئ چې له مړو څخه را پورته شوی وي او بیا نه وي مړ شوی؟ نه هیڅوک نه، نو دا یوه څرګنده خبره ده چې که څه هم عیسی یو انسان و خو له سترو انسانانو څخه هم ستر و، نو بیا هغه څوک دی؟ لکه چې مو مخکې ویلي وو عیسی خپله ویل چې دی د خدای تعالی زوی دی، هغه نه یواځې دا خبره د خپلې محاکمې پر مهال کړېده بلکې مخکې له هغې څخه یې هم ویل او سر بیره پر دې هغه خدای تعالی خپل (پلار) ګاڼه، یو ځل یې وویل: (زه او زما پلار یَو یُو) د ده دښمنانو غوښتل چې سنګسارِ یې کړي، ځکه چې دوی فکر کاوه چې دی کفر وایي، مګر مونږ ډیر ښه پوهیږو چې عیسی کافر او دروغژن نه و بلکې د ده ټول کارونه سم وو. باید پدې ټکي وپوهیږو، که څوک وایې چې عیسی د خدای زوی نه دی نوعیسی دروغژن ګڼي، او که چیرې عیسی دروغژن وي نو هیڅوک باید پر هغه ایمان و نه لري.
هر کله چې عیسی ویل: زه د خدای زوی یم، نو د پاک خدای هغه خبره یې تکراروله چې د تعمید په وخت کې له آسمانه ویل شوی وه: (ته زما محبوب زوی یې، زه له ستا څخه راضي یم) (مرقوس ۱: ۱۱).
د عیسی د رسولانو په ټولو لیکونو کې څو څو ځلې ویل شوي دي چې عیسی د پاک خدای زوی دی او ټولو مسیحیانو هم دا منلې ده، مګر دا خبره په یاد ولرئ چې دا اصطلاح روحاني بڼه لري نه جسماني، ځکه چې خدای تعالی له کومې ښځې سره واده نه دی کړی چې هغه زوی ولري او دا کار له فکر څخه لیری دی.

په انجیل کې عیسی (د خدای کلمه) هم بلل کیږي، د خدای د زوی کلمه د لوی خدای سره د عیسی یو والی په ګوته کوي خو د خدای د کلمې اصطلاح مونږ ته راښایي چې پاک خدای د عیسی پواسطه له انسان سره خبرې وکړې، په انجیل کې داسی لولو: (په ازل کې کلمه وه او کلمه خدای و، او هغه په ازل کې د خدای سره وه، هر څه د هغه په وسیله پیدا شول او له هغه پرته هیڅ شی هم ندی شته شوی، په هغه کې ژوندون و او ژوندون د انسان رڼا وه، رڼا په تیاره کې ځلیږي او تیاره هیڅکله پر هغې برلاسه کیدای نشي. (یوحنا ۱: ۱ او ۱۴).

له ذکر شوو آیاتونو څخه مطلب دا دی چې پاک خدای تر دې وړاندې د انبیاؤ او د هغوی د کتابونو پواسطه خپل ځان څرګند کړی و، په پای کې یې ځان د یو بشپړ انسان پوسیله څرګند کړ، دا بشپړ سړی له پیغمبر څخه ډیر لوی دی، په حقیقت کې له خدای سره یو دی، د انجیل شریف پورتني آیتونه مونږ ته وایي چې دا سړی د خدای کلمه او د خدای تعالی زوی دی، هغه له ازل څخه له خدای تعالی سره یو و او هر شی د هغه په واسطه پیدا شوی دی، په یو ټاکلي وخت کې د خدای تعالی ابدي کلمې د پیغلې مریمې په ګیډه کې انساني بڼه غوره کړه او د عیسی په شکل کې ښکاره شو، پدې ډول مونږ ګورو چې هغه د دوو طبیعتونو یعنې د انساني او الهي خویونو خاوند دی، عیسی مسیح هم انسان دی او هم خدای. لومړنیو خلکو چې پر هغه ایمان راوړ او د هغه رسولان شول، یهودیان وو او د خدای تعالی پر وحدانیت یې پوره یقین درلود، هغه وخت چې هغوی له عیسی سره دوه کلونه تیر کړل، دوی پوه شول او پوره باور یې درلود چې د دوی استاذ له پاک خدای سره یو دی او همدا دلیل و چې پطروس وویل: (ته د ژوندي خدای زوی مسیح یې.)

(متی ۱۶:۱۶)

همدارنګه کله چې توما عیسی مسیح له مرګ وروسته ژوندی ولید نو ویې ویل (زما مالکه او زما خدایه!) (یوحنا ۲۰: ۲۸)

عیسی لدې کبله د خپلو شاګردانو صفت کړی چې پر هغه یې ایمان درلود، کله چې توما د عیسی تر لیدلو وروسته پر هغه ایمان راوړ نو عیسی وویل:(پدې چې تا زه ولیدم نو ایمان دې راوړ، بختور دي هغوی چې زه یې نه یم لیدلی خو ایمان راوړي) (یوحنا ۲۰ :۲۹).

دا بختورتیا مونږ ته هم په نصیب کیږي، پدې شرط چې ایمان ولرو چې هغه د خدای زوی دی. اوس پوهیږم چې غواړې پوښتنه وکړې چې: (لوی خدای یو دی، نو څنګه کیدایشي چې عیسی د خدای زوی وي؟)

دا له هغو رازونو څخه ده چې پر هغې پوهیدل زمونږ له عقل څخه لیرې ده، له خدای پرته څوک د خدای پر ذات او ماهیت باندې پوهیدلی شي؟ مګر باید پدې پوه شو چې پاک

خدای قادر مطلق دی او هغه څه کولایشي چې د هغه د ارادې پر خلاف نه وي. کیدای شي چې په طبیعت کې وګورو او د خدای د اسرارو نښې نښاني که څه هم ناقصې وي پیدا کړو، لمر ته وګورئ چې په آسمان کې دی دومره لوی او تود دی چې که مځکې ته نژدې شي ټول شیان به لمنځه یوسي، لمر خپلې وړانګې چې په حقیقت کې له لمر سره فرق نه لري پر دنیا باندې خپروي او د هغې په واسطه مونږ ته رڼا او تودوالی ښېي، په همدې ډول لوی خدای خپله رڼا زمونږ پر دنیا چې له هغه سره فرق نه لري اچوي، تر څو مونږ ته ژوند راوبښي، لوی خدای دا رڼا خپله کلمه او خپل زوی ګڼي، د خدای تعالی نور(رڼا) د عیسی مسیح په صورت څرګند شو چې پدی هکله خپله داسې وایي: (زه د دنیا نور یم، څوک چې زما پسې راځي هغه به په تیاره کې نه ګرځي بلکې په هغه نور کې چې ژوندون روښانه کوي.) (یوحنا ۱۲: ۸)

کله چې عیسی مسیح وینو نو لوی خدای وینو، عیسی وویل: (فیلیپوسه! زه له ستاسو سره له دومره مودې څخه یم او بیا مې هم نه پیژنې؟ هر چا چې زه لیدلی یم پلار یې هم لیدلی دی، نو بیا ته څنګه وایې چې مونږ ته پلار راوښایه؟) (یوحنا ۱۴: ۹) لدې کبله مونږ مسیحیان ډاډه یو چې لوی خدای پخپله د عیسی مسیح په واسطه زمونږ څنګ ته راغلی دی.

ګرانه! دا ستا په نظر یو عجیب کار دی چې قادر مطلق خدای دې د ګناهګار بشر د خلاصون لپاره په دې ډول دنیا ته راشي؟ مګر هیر نه کړې، هغه خدای چې ډیر لوی دی خپل ټول کارونه د مینې له مخې سرته رسوي او نړۍ ته یې د مسیح په شخصیت کې له راتګ سره خپله الهي مینه په بشپړه توګه مونږ ته ښکاره کړیده، تاسو د هغه عادل پاچا کیسه اوریدلې چې د فقیرانو کالي به یې اغوستل او د مظلومو خلکو کره به ورتلو او له هغوی سره به یې خبرې او مرستې کولې، دا ناقصه او نیمګړې بیلګه تر یو څه حده د دې ښکارندویه ده چې څرنګه د خدای زوی چې له خدای سره یو دی، خپل آسماني جلال پریښود او ځمکې ته راغی او د یو فقیر انسان په شان یې ژوند وکړ، تر څو خپله مینه انسانانو ته ښکاره کړي او هغوی د پاک خدای لور ته راوبلي، دا راز محبت ډیر حیرانوونکی دی.

## ۸- د مځکې پر مخ د عیسی مسیح کار څه و؟

لکه څرنګه چې ولیدل شول عیسی مسیح دنیا ته راغی تر څو خدای تعالی انسان ته ښکاره کړي، انسان خدای تعالی ته نژدې کړي او پر مځکه د خدای تعالی د پاچاهۍ د بنسټ ډبره کیږدي. په دویم فصل کې وویل شول چې څرنګه انسان د خدای تعالی په مقابل کې ودرید، نه یوازې د ګناهونو د دیوال په واسطه د خدای څخه جلا شو بلکې داسې

کمزوری شو چې نه یې شو کولی په یواځې توګه د خدای تعالی اطاعت وکړي او هغه ته نژدې ژوند وکړي، لدې کبله لوی خدای فیصله وکړه چې د ګناه دیوال له منځه یوسي تر څو د شریر انسان زړه نرم کړي، انسان پر دې قادر شي چې د خدای عبادت وکړي، په زړه کې یې د هغه لپاره مینه پیدا شي او د هغه اطاعت وکړي. لوی خدای دا کار څنګه وکړ؟ اوس کوښښ کوم چې د مسیحیت یوه لویه اصولي عقیده تشریح کړم.

لکه څرنګه چې مې مخکې وویل، لوی خدای آدم او حوا ته وویل چې که سرغړونه وکړئ نو مړه به شئ. اشعیا په خپل کتاب کې چې د عیسی له زوکړې سلګونه کلونه وړاندې لیکل شوی د یو سړي د راتګ په هکله خبرې کوي او وایي چې: هغه به د ګناهګارانو لپاره رنځ، کړاو او مرګ ویني تر څو هغوی وبښل شي او ژوندون ومومي، اشعیا د دې پېښې د پایلې په هکله داسې وړاندوینه کوي: هغه زمونږ د کمزورتیاو له امله ټپي او زمونږ د ګناهونو له امله ټکول کیږي، مونږ د هغه د زخمونو له برکته شفا ومونده، مونږ ټول د ګډورو پشان بې لیارې روان وو... خدای زمونږ د ټولو ګناهونه پر هغه باندې کیښودل اوهغه به د هغوی ټول ګناهونه پر خپلو اوږو واخلي (اشعیا ۵۳). په لنډه توګه هغه ژغورونکی چې پاک خدای د هغه وعده کړې وه، د قربانۍ په توګه به د انسان د ګناهونو لپاره ځان قربان کړي.

لکه څرنګه چې مې مخکې وویل، دا هغه کار و چې عیسی مسیح سر ته ورساوه. یحیی وویل: عیسی د خدای هغه ګډوری دی چې د دنیا ګناه لرې کوي (یوحنا ۱: ۲۹). خپله عیسی له خپل مرګ څخه وړاندې وویل: د ده وینه به د ډیرو خلکو د ګناهونو د بښلو لپاره تویه شي (متی ۲۶: ۲۸).

وروسته عیسی خپل ځان د ګناهکارانو د ګناهونو د بښلو لپاره قربان کړ، د خدای تعالی مینه یې انسان ته ښکاره کړه او همدارنګه یې خپله مینه هم وښوده. پولوس رسول وایي: (کله چې مونږ لا ګناهګار وو، نو مسیح زمونږ لپاره مړ شو.) (رومیان ۵: ۸)

عیسی وویل: (خدای لدې دنیا سره دومره مینه وکړه چې خپل یواځینی زوی یې ورکړ تر څو هر څوک چې پر هغه ایمان راوړي هلاک نشي او ابدي ژوندون بیامومي)

(یوحنا ۳: ۱۶).

لدې کبله چې لوی خدای عادل دې نو ګناهګاران به تر هغه وخته پوری و نه بښی تر څو چې د هغوی د ګناهونو کفاره ور کړل شوې نه وي، هیڅوک حتی که هغه پیغمبر هم وي دومره نیک اوبشپړ ندی تر څو وکولی شي د نورو خلکو او حتی د خپلو ګناهونو لپاره

ځان قربان کړي، نو ځکه خدای د خپل لوی رحمت او محبت په وجه په عیسی کې ښکاره شو، تر څو زمونږ ګناهونه پر ځان واخلي، لوی خدای د هغو ټولو کسانو د ګناهونو کفاره ورکړې ده چا چې پر عیسی مسیح ایمان راوړي، د خدای تعالی زوی دومره لوړ مقام لري چې د هغه یو ځل قرباني د ټولې دنیا د ګناهونو د کفارې لپاره بسیا کوي، لدې کبله د ګناهګارانو لپاره د بلې قربانی ضرورت نشته، مسیح د خپلې قربانی په واسطه د بیلتون هغه دیوال لمنځه ویوړو کوم چې د ګناهګارانو او لوی خدای په منځ کې حائل و، او دا امکان یې پیدا کړ چې دوی وبښل شي او لوی خدای ته نژدې شي، عیسی مسیح نه یواځی له هر چا څخه په ښه توګه خدای تعالی خپلو بندګانو ته ور وپیژانده بلکې د خپل سپیڅلي ژوند او مرګ په وسیله یې زمونږ ګناهګارانو لپاره د لوی خدای اراده او نیت ښکاره کړ.

په ایران کې یو سړي راته وویل: مخکې لدې چې مسیحي شم نو فکر مې کاوه چې خدای پیژنم، مګر په حقیقت کې مې هغه نه پیژانده، یواځې هغه مهال مې وکولایشول تر څو واقعاً خدای وپیژنم کله مې چې په عیسی مسیح کې ولید، نو هر څوک چې د خدای تعالی په لټه کې وي هغه به په مسیح کې پیدا کړي. وړاندې لدې چې دا برخه کومه چې د عیسی مسیح په باره کې ده پای ته ورسوم، غواړم چې د هغه یو څو نومونه تاسو ته بیان کړم.

١ - د هغه نوم عیسی دی او دا له یوې عبري کلمې څخه اخیستل شوی چې معنی یې ده (یهوه ژغورنه ده).

٢- د هغه اصلي عنوان مسیح دی، یعنې مسح شوی، هغه د خدای په وسیله مسح شوی تر څو ابدي پاچا واوسي.

٣- هغه (عمانوئیل) دی، یعنې خدای زمونږ سره دی.

۴- هغه د خدای کلمه ده.

۵- هغه د (خدای زوی) دی.

۶- هغه د (انسان زوی) دی، څرنګه چې به ده خپل ځان ته ویل، یعنې هغه هم خدای دی او هم انسان.

٧- هغه د (خدای ګډوری) دی.

٨- هغه د (جهان ژغورونکی) دی.

٩- هغه د (پاچایانو پاچا) دی.

١٠- هغه (مالک) دی.

۱۱- هغه ښه (شپون) دی.

۱۲- هغه (ليار) ده.

۱۳- هغه (حقيقت) دی.

۱۴- هغه (ژوند) دی.

۱۵- هغه (د ژوند ډوډۍ) ده.

۱۶- هغه (ريښتينی تاک) دی.

۱۷- هغه (پوره انسان) دی.

۱۸- هغه (قاضي) دی.

۱۹- هغه (لوی کاهن) دی.

۲۰- هغه (قيامت) دی.

۲۱- هغه (د جلال خدای) دی.

## ۹ - انسان بايد څه وکړي تر څو له ګناه څخه وژغورل شي او د خدای له خوا وبښل شي؟

ګرانه! اوس هغه سوال ته رسيږو چي ما او تا او نورو ډيرو خلکو ته ارزښت لري، ټول پوهيږو چې ګناهګاران يو، بايد له خدای څخه وغواړو تر څو هغه لار را وښايي چې مونږ د هغې په واسطه وبښل شو او خدای مونږ ومني.

لکه څرنګه چې ټول پوهيږو پدې هکله راز راز عقيدې شتون لري، ځيني داسې فکر کوي چې هغوی د يو خاص قوم او ډلې پورې اړه لري او يا د يوه خاص مذهب او عقيدې پيروان دي نو لدې کبله خدای هغوی ښي، ځيني پدې عقيده دي چې د نيکو کارونو په کولو سره به خپل بد کارونه پټ کړي او پدې ډول به وبښل شي، ځيني پدې عقيده دي چې يو له انبياؤ يا سپيڅلو څخه به ورته دعا وکړي او خدای به راضي کړي تر څو دوی وبښي. خو سپيڅلی کتاب مونږ ته تعليم راکوي چې د دې ټولو ليارو څخه په ګټې اخيستلو مونږ نشو کولی ابدي خلاصون تر لاسه کړو، هيڅوک په بشپړه توګه ښه نه دی تر څو سپيڅلي خدای ته د منلو وړ وګرځي، نو آيا زمونږ ګناهګارانو لپاره کومه بله هيله او اميد شتون لري؟ د لوی خدای شکر دی چي زمونږ لپاره اميد شته، هغه څه چې مونږ ونشو کولی د ځان لپاره يې وکړو، لوی خدای د خپلې پاکې مينې په وجه زمونږ لپاره کړي دي، سپيڅلی کتاب وايي: (هغه پخپله زمونږ د ګناهونو کفاره دی، نه يواځې زمونږ د ګناهونو

بلکي د ټولي دنيا د ګناهونو هم.) خو که مونږ په رڼا کې ګرځو لکه څنګه چې هغه خپله په رڼا کې دی نو بيا مونږ په خپلو کې مشارکت (يوځايتوب) لرو، او د هغه د زوی عيسی مسيح وينه مونږ له هرې ګناه څخه پاکوي، که مونږ د خپلو ګناهونو اقرار وکړو نو هغه وفادار او ريښتينې دی، هغه به زمونږ ګناهونه وبښي او له هر ډول بديو څخه به مو پاک کړي. (لومړی يوحنا ۲: ۲ او ۱: ۷، ۹).

لدې کبله وينو، هغه لار چې خدای مونږ ګناهګارانو ته پرانستې تر څو د هغې په وسيله د هغه لور ته ورشو او هغه ته د منلو وړ وګرځو دا ده چې د ګناه پر اصلي قربانۍ يعنې عيسی مسيح ايمان راوړو او لدې پرته بله لار نشته لکه څرنګه چې عيسی مسيح فرمايي:

(زه ليار، ريښتيا او ژوندون يم او هيڅوک زما له وسيلې نه پرته پلار ته نشي راتلای.)

(يوحنا ۱۴: ۶ )

لوی خدای خپل زوی مځکې ته را واستاوه تر څو ټولو خلکو ته خلاصون ورکړي او عيسی هر هغه څوک مني چې د هغه خواته ورشي، څوک چې د عيسی خواته ور شي منل کيږي، د دې خبرې معنی دا ده چې هر څوک له خپلو ګناهونو څخه توبه وکړي او عيسی مسيح چې د خدای زوی دې د خپل خلاصوونکي په توګه ومني هغه ضرور ښنل کيږي، هر څوک ځوان او زوړ، ښه او بد، بيسواده او باسواده کولی شي د هغه لور ته راشي، مګر دومره بايد پوه شو چې پر مسيح ايمان يوازې دا نه دی چې مونږ هغه يوازې د خدای زوی وګڼو، بلکې لکه څرنګه چې يو ناروغ ځان ډاکټر ته سپاري مونږ هم بايد ځان هغه ته وسپارو او پر هغه باور ولرو چې مونږ ته به شفا راکوي، مونږ مسيحيان ډير خوشحاله يو چې عيسی د نورو رسولانو په شان مړ او په قبر کې پروت ندی بلکې هغه ژوندی او روحاً زمونږ سره دی. لکه څرنګه يې چې هغه وخت د يو انسان په څير په اسرائيلو کې ژوند کاوه او شفا يې ورکوله، اوس هم کولی شي چې مونږ ته شفا او خلاصون راکړي، عيسی د لمر د وړانګو په شان زمونږ سره دی او هم په آسمان کې له خپل آسمانی پلاره سره دی، هغه تل له خپل پلار سره دی او هلته د هغه چا لپاره دعا کوي چې پر هغه ايمان لري، سپيڅلی کتاب وايي: (لدې کبله هغه قادر دی تر څو هغو ته بې اندازې خلاصون ورکړي کوم چې د هغه پوسيله د خدای لوری ته راځي، ځکه هغه تل ژوندی دی تر څو د هغوی شفاعت وکړي.). (عبرانيان ۷: ۲۵)

زمونږ لپاره د صليب په سر د هغه مرګ اوهميشنۍ دعا نه يوازې دا چې له دوزخ څخه د ايماندارانو د خلاصون لپاره اغيزمنه ده، بلکې کله چې هغوی د بدۍ په دې دنيا کې ژوند کوي نو کولايشي پاک او سپيڅلي يې وساتي، د هغه مرګ آسان مرګ نه و، بلکې د هغه مرګ ډير وياړلی و او د بشريت خلاصون يې له ځان سره درلود ،همدغه راز د هغه شفاعت هم صرف له دوزخ څخه د ژغورنې لپاره نه بلکې د خالق او بشر تر منځ د اړيکو د ټينګولو لپاره دی تر څو د خدای او انسان اړيکې پياوړي شي.

ګرانه! زه د زړه له کومې نه دعا کوم چې ته او هر هغه څوک چې د رب د موندلو په لټه کې دي تيار اوسي تر څو د خلاصون دا تحفه ومني، هيڅوک نه شي کولی چې خلاصون په بيه واخلي بلکې خدای مونږ ته هغه د وړيا تحفې په توګه راکوي، يدې شرط چې مونږ د ايمان لاسونه د هغه لوری ته ور اوږده کړو او هغه ومنو.

## ۱۰- روح القدس څوک دی؟

تاسو ته به په ياد وي کله چې عيسی مسيح د يحيی په واسطه د تعميد غسل واخسيت نو روح القدس پر هغه نازل شو، همدغه راز عيسی وعده وکړه چې له خپل تګ څخه وروسته به هغه روح چې تسلي ورکوونکی دی راوليږي تر څو د هغه له رسولانو سره پخپلو دندو کې لار ښوونه او مرسته وکړي، لدې وعدې سره سم آسمان ته د عيسی مسيح له پورته کيدلو لس ورځې وروسته روح القدس پر ټولو ايماندارانو نازل شو او هغوی د خدای پاک پيغام په ځواک سره خپور کړ چې د هغې له کبله څو زرو کسانو پر عيسی مسيح ايمان راوړ. دا روح القدس څوک دی؟ ځيني خلک فکر کوي چې روح القدس جبرائيل فرشته او يا کوم پيغمبر دی او د ځينو نورو دا خيال دی چې روح القدس له يو سپيڅلي ځواک پرته بل شی نه دی، مګر سپيڅلی کتاب وايي چې: روح القدس د لوی خدای مخلوق نه دی بلکې د خدای روح دی او له خدای سره يو دی، کله چې د روح القدس کارونو ته ځير شو نو دا موضوع بيخي څرګنديږي. عيسی د نيقوديموس په نامه يو تن ته وويل چې د خدای پادشاهۍ ته داخل شي، نو هغه وخت نيقوديموس په حيرانتيا سره پوښتنه وکړه چې د هغه پشان يو بوډا سړی څنګه کولی شي تر څو نوی ژوندون بيا مومي؟ نو عيسی وويل: له سره پيدا کيدل د روح القدس کار دی او دا يوه معلومه خبره ده چې لکه څرنګه خدای تعالی کولی شي انسان ته جسمي ژوند ورکړي، همدارنګه کولی شي چې روحي ژوند هم ورکړي او هغه په يو نوي سړی بدل کړي. کله چې انسان په ګناه کې ژوند کوي د شيطان زوی دی، مګر خدای تعالی قادر دی چې انسان د خپل روح القدس په واسطه بدل کړي او هغه وخت چې انسان له سره پيدا کيږي نو د لوی خدای منلی زوی وګرځي، سربيره پر دې روح القدس د لوی خدای د سپيڅلي کتاب ليکونکی هم دی ځکه چې هغه د داود او اشعيا په څير نورو انبياؤ ته لارښوونه وکړه، همدغه راز روح القدس و چې متی، لوقا، پولوس او د نوي تړون نورو ليکونکو ته يې لارښوونه کړې ده، د سپيڅلي کتاب په وينا: (ځکه چې هيڅکله نبوت د انسان په اراده ندی راغلی بلکې خلکو د روح القدس د اغيزې په وجه د خدای له لوري خبرې کړي.) (۲ پطرس ۱: ۲۱)

همدارنګه د خدای روح ټولو هغو ته چې دا سپیڅلي کتابونه یې لیکلي لارښوونه کړې ده او همدغه روح د هغه چا لپاره چې دا کتابونه لولي یواځینی او ریښتینی لارښود دی.

عیسی مسیح وفرمایل: (دا خبرې ما تاسو ته وکړې کله چې زه ستاسو سره وم مګر تسلي ورکوونکی یعنی روح القدس به تاسو ته هر څه در وښایي کوم به چې پلار زما په نوم راولیږي، او هغه څه به درياد کړي کوم چې ما تاسو ته ښودلي دي).

(یوحنا ۱۴: ۲۵ - ۲۶)

پدې کې شک نشته کله چې عیسی خپلو شاګردانو ته وویل چې هغه باید پر صلیب وځیږي او بیا به لدې نړۍ څخه آسمان ته پورته شي نو هغوی ډیر غمژن شول، خو عیسی په خپلې ژمنې سره چې روح به یې راشي، د دوی لارښوونه به وکړي او ځواک به ورکړي، دوی ډاډه کړل. آسمان ته د هغه له پورته کیدلو لس ورځې وروسته روح القدس د ده پر شاګردانو نازل شو او د دوی حالت یې بدل کړ، له هماغې ورځې وروسته روح القدس د عیسی د ریښتینو پیروانو په وجود کې ځای ونیو او د هغه له وعدې سره سم به په هغوی کې پاتې شي. (اعمال د رسولانو ۱: ۴ - ۸)

باید پدې پوه شو چې یواځې د خدای تعالی روح کولی شي چې د ګناهکارانو ړندې سترګې بینا او له هغوی سره مرسته وکړي، تر څو وپوهیږي چې مسیح څوک دی؟ ځکه چې سپیڅلی کتاب فرمایي: (نو تاسو ته خبر درکوم چې، هر څوک چې د روح القدس په وسیله خبرې کوي، هغه به هیڅکله پر عیسی لعنت ونه وایي او یو تن هم له روح القدس پرته نشي ویلی چې عیسی مالک دی).(۱قرنتیان ۱۲: ۳)

لدې کبله حیرانوونکی نده، هغه خلک چې روح القدس نلري ناشونی ګڼي چې عیسی مسیح ته د خدای ځوی ووایي.

لدې څخه معلومیږي چې روح القدس ایماندارانو ته نوی پیدایښت او معرفت وربښي تر څو وپوهیږي چې عیسی څوک دی؟ هغه همدارنګه زموږ سترګې خلاصوي تر څو خپل ګناهونه ووینو او موږ ته دا ځواک ښي چې توبه وکړو. هغه څوک چې پر عیسی مسیح ایمان راوړي هغه د خدای لخوا ښکل کیږي، خدای هغه پخپلو زامنو کې شمیري او نوی زړه ورکوي مګر له ګناه څخه ډک ځان او پخوانی ذات یې پاتې کیږي او هغه د شرارت لوري ته راکاږي، شیطان تل تیار وي چې هغه له لارې څخه واړوي او دې ته یې تشویقوي چې د خدای تعالی له اوامرو څخه سرغړونه وکړي، مګر روح القدس چې د ده په وجود کې دی ور سره مرسته کوي تر څو له شیطان سره مقابله وکړي او په هغه کې هغه صفات رامنځته کوي چې د خدای تعالی خوښ وي، لکه مینه، پاکوالی، ریښتینولي، خوښي، آرامي او سوله (ګلتیان ۵: ۲۲ - ۲۵)، د روح القدس دا کار په ایماندارانو کې تر هغه وخته دوام لري تر څو چې پدې نړۍ کې ژوند کوي، په تدریجي ډول یې بدلوي او خپل استاذ عیسی مسیح ته یې نژدې کوي ځکه د خدای پاک مقصد او غوښتنه دا ده تر څو

مونږ ټول د هغه د يواځيني زوی په شان بشپړ شو، او کله چې مونږ د عيسی په شان بشپړ شو نو جنت ته به ولاړ شو. (۱ يوحنا ۳: ۲)، روح القدس له نورو لارو څخه هم زمونږ سره مرسته کوي، هغه مونږ ته راښايي چې څرنګه دعا وکړو، مونږ ته د عيسی مسيح د خدمت لپاره لار ښوونه کوي او قدرت راکوي.
(روميان ۸: ۲۶ - ۲۷ او اعمال ۱۳: ۲ - ۴ او ۱۶: ۶ - ۷)

هغه څه چې لدې حقيقتونو څخه زده کوو دا دی چې روح القدس په اصل کې خپله خدای دی چې په ايماندارانو کې اوسيږي، څومره لويه او د وياړ خبره ده چې لوی او پاک خدای له خپل سپيڅلي روح سره په انسان کې ميشت شي، په حقيقت کې دا لوی نعمت دی چې خدای انسان ته ورکړی، او خپل ځان يې انسان ته ښنلی دی، دغه نعمت کومو کسانو ته ښنل شوی؟ لکه څرنګه چې پوهيږو په تيرو وختونو کې خدای خپل روح انبياؤ او مقدسينو ته ورکاوه، مګر کله چې خدای خپل زوی راوليږه تر څو د نړی ژغورونکی شي نو خپل روح يې ټولو هغو کسانو ته ورکړ چې پر هغه ايمان راوړي. عيسی مسيح فرمايي: (که تاسو سره لدې چې بدکاران ياست، پدې پوهيږئ چې خپلو اولادونو ته ښې تحفې ورکړئ، نو ستاسو آسماني پلار به څومره ډير پاک روح هغوی ته ورکړي چې له هغه څخه يې غواړي.) (لوقا ۱۱: ۱۳ )
زمونږ خدای ريښتينی دی او هر څوک چې هر وخت پر مسيح ايمان راوړي، هغه د خدای په صفت ومني او ځان ورته وسپاري او له هغه څخه وغواړي چې روح القدس ورکړي، نو خدای به خامخا دا کار وکړي، لکه څرنګه چې هره ورځ له هغه څخه خپله ورځنۍ ډوډۍ غواړو نو همدغه راز بايد د خپل معنوي ژوندون لپاره هم په پرله پسې ډول دعا وکړو تر څو هغه مونږ له خپل پاک روح څخه ډک کړي. عيسی مسيح و فرمايل:
(وغواړئ نو تاسو ته به درکړل شي.) (لوقا ۹:۱۱)

## ۱۱ - درې اړخيزه يووالی (تثليث) څه ته وايي؟

ګرانه! اوس هغه ټکی ته رسيږو چې تا غوښتل په هغه وخت کې پوښتنه وکړې کله چې ما وويل مسيحيان پر يو خدای باور او ايمان لري، زه پوهيږم چې تا اوريدلي چې مسيحيان د دريو خدايانو عبادت کوي يعنې خدای، عيسی او د هغه مور مريمه، او دې ته درې اړخيزه يو والی يا تثليث ويل کيږي. لکه څرنګه چې مې مخکې وويل، که چيرې مسيحيان له خدای پرته د بل چا، يا د هغه په پرتله د هغه د بل مخلوق عبادت وکړي نو ډيره لويه ګناه به يې کړي وي، پيغله مريمه ډيره سپيڅلی ښځه وه مګر هيڅکله بايد د خدای په ځير د هغې عبادت ونشي. البته دا سمه ده چې مسيحيان د عيسی مسيح ستاينه کوي مګر هغه لدې وجهې نه کوي چې ګوندې هغه يو سپيڅلی پيغمبر و بلکې لدې کبله

چې هغه د خدای ازلي کلمه ده، هغه د خدای زوی او په بشپړه توګه له خدای سره یو دی، هغه داسې یو سړی نه و چې مونږ انسانانو هغه د خدایی مرتبې ته رسولی وي، او یا مو هغه له حقیقي خدای سره یو کړی وي، بلکې هغه له ازله له خدای سره یو و او د دې لپاره انسان شو تر څو ګناهګار انسان وژغوري او د خدای لور ته یې را وګرځوي، لدې کبله هغه د عبادت لایق دی ځکه چې هغه حقیقي خدای دی.

سر بیره پر دې مخکې مو په ډاګه کړه چې روح القدس د خدای له مخلوقاتو څخه نه دی بلکې له خدای سره یو دی او خپله خدای دی، روح القدس د انسان په ژوند کې هغه کار سرته رسوي کوم چې یواځې خدای کولی شي هغه تر سره کړي، له همدې کبله د ستاینې وړ دی، لکه څرنګه چې د خدای زوی د لمانځنې او ستاینې وړ دی.

لدې څخه کومې نتیجې ته رسیږو؟ آیا مطلب دا دی چې درې خدایان یعنی زوی، پلار او روح القدس وجود لري؟ البته نه، هیڅکله مطلب دا نه دی، بیا هم وایم چې حقیقي خدای یو دی او همیشه به یو وي، خو پدې یووالی کې دغه درې شخصیتونه یعنې پلار، زوی او روح القدس له ازله شامل دي. پلار چې په انساني سترګو کې نه لیدل کیږي د الوهیت سرچینه ده، زوی په بشري تاریخ کې یو ځل نالیدلی پلار په بشپړه توګه ښکاره کړ، روح القدس د پلار او زوی په واسطه ورکړل شو، تر څو د خدای پاک اراده د خلکو په منځ کې عملي کړي.

نو اې ګرانه! ډاډمن اوسه چې مسیحیان د واحد خدای چې (پلار، زوی او روح القدس دی) عبادت کوي. عیسی مسیح په تثلیث کې دغه یو والي ته اشاره وکړه او خپلو رسولانو ته یې امر وکړ تر څو لاړ شي او خلک د هغه شاګردان کړي او ایماندارانو ته د پلار، زوی او روح القدس په نامه د تعمید غسل ورکړي (متی ۲۸: ۱۹) . وروسته به د تعمید په هکله خبرې وکړم .

## ۱۲- کلیسا څه ته وایي؟

اوریدلی به مو وي چې خلک هغو ودانیو ته چې عیسویان پکې عبادت کوي کلیسا وایي. که هر څومره خلک ودانۍ ته کلیسا وایي مګر د کلیسا اصلي معنی ودانۍ نده، بلکې کلیسا د ایماندارانو هغې ټولنې ته وایي چې په هغې ودانۍ کې عبادت کوي، یا کلیسا د هغو ایماندارانو ټولنې ته وایي چې په یو ځانګړی ځای کې وي، همدغه راز دغه کلمه د ټولو ایماندارانو لپاره استعمالیږي، هغه ایمانداران چې په دې دنیا کې دي او هم هغه خلک چې له مسیح سره په آسمان کې دي.

په تیرو وختو کې خدای پاک د اسرائیلو قوم خپل غوره قوم وټاکه، لوی خدای خپل احکام د موسی په وسیله هغوی ته ولیږل او د اسرائیل مځکه یې هغوی ته ورکړه، هغوی ته یې

انبیاء ور ولیږل تر څو تعلیم ورکړي او د عیسی مسیح د راتلو په هکله ور سره خبرې وکړي، کله چې وعده شوی مسیح په ټاکلي وخت د اسرائیلو په منځ کې پیدا شو نو ځینو خلکو پر هغه ایمان راوړ او ډیرو له ایمان راوړلو څخه ډډه وکړه، بیا خدای له هغوی څخه چې پر مسیح یې ایمان راوړی و د ځان لپاره یو نوی قوم جوړ کړ چې د مسیح کلیسا کیږي، په پیل کې یواځې اسرائیلیان د خدای پاک غوره قوم بلل کیدل مګر اوس د مځکې پر مخ د ټولو قومونو او ملتونو، نارینه او ښځینه هر څوک چې د هر ځای وي او پر مسیح ایمان راوړي، د پاک خدای نوی قوم شمیرل کیږی. د اسرائیلو ټولني ته د ننوتلو لار د سنتولو مراسم وو چې لوی خدای ابراهیم او د ده د نسل ټولو نرانو ته ټاکلي وو، مګر د عیسی کلیسا ته چې د خدای تعالی نوی قوم دی د ننوتلو لار د تعمید غسل دی، لدې کبله سنتیدل اوس مذهبي اهمیت نلری، د تعمید غسل هغه چا ته ورکول کیږي چې توبه یې ویستلی وي او پر عیسی مسیح یې ایمان راوړی وي، د تعمید غسل د خدای تعالی په روحاني کورنۍ کې د غړیتوب نښه ده، یواځې د تعمید غسل چاته ژغورنه نشي ورکولی، ځکه ګناهګاران یواځې پر مسیح د ایمان راوړلو په وسیله ژغورنه تر لاسه کوي، د تعمید غسل له ګناه څخه د پاکوالي نښه او په مسیح کې د یو نوي ژوند پیل دی، په ځینو کلیساو کې د تعمید د غسل مراسم داسې وي چې پر تعمید اخیستونکي اوبه شیندي او په ځینو نورو کې داسې وي چې ټول سړی په اوبو کې ننباسي، د تعمید غسل د هر انسان لپاره صرف یو ځل تر سره کیږي.

په نوي تړون کې کلیسا د عیسی مسیح بدن بلل کیږي، عیسی د کلیسا سر او د بدن ټول غړي چې له هر قوم، ژبې او رنګ څخه وي په هغه کې یو دي، لدې کبله کلیسا یوه ده ځکه چې عیسی مسیح یو دې، مسیحي کلیسا قومي، ژبنیز او توکمیز توپیرونه نه مني، کلیسا پاکه ده ځکه چې د خدای پاک پورې اړه لري، لدې سره بیا هم چې د نړۍ د اوسنۍ کلیسا وضعیت وینو نو له تفرقې سره مخامخ ده او کله نا کله شرارت هم پکې شتون لري، د دې کار علت او دلیل څه دی؟ لومړنۍ ټکی چې باید هغې ته متوجه شو دا دی چې په کلیسا کې داسې ډیر خلک شتون لري چې د روح القدس په وسیله یې نوې زوکړه نده موندلې، په همدې دلیل هغوی ریښتینیي مسیحیان ندي، سپیڅلی کتاب وایي: هر څوک چې د مسیح روح نلري نو له هغه څخه نه دی. (رومیان ۸: ۹)
سر بیره پر دې باید وپوهیږو چې د کلیسا ټول غړي د هغو ناروغانو په څیر دي چې روغتون ته د درملنې لپاره راغلې وي، هغوی خپل ځان د لوی طبیب عیسی مسیح لاسونو ته سپارلی، او هغه دوی ورو ورو د ګناه له مرض څخه خلاصوي او شفا ورکوي، تر هغه وخته چې مسیحیان پدې دنیا کې ژوند کوي د ګناه له پایلې څخه په بشپړه توګه آزاد نه دي، له همدې کبله ټول محتاج یو چې پر خپلو ګناهونو اعتراف او ورڅخه توبه وکړو، ټول بني بشر ګناهګاران دي مګر هغه فرق چې د مسیحیانو او نورو تر منځ شتون لري هغه دا دی چې مسیحیانو خپل ځانونه هغه ډاکټر ته سپارلي کوم چې پاک خدای دی، د

هغه له درملو څخه ګټه پورته کوي او د هغه امرونه مني، په داسی حال کې چې نور داسې نه کوي.
پداسی حال کې چې حقیقی ایمانداران په مسیح کې یو دي، تاسو باید وپوهیږئ چې په دنیا کې د مسیحیانو ډول، ډول فرقې هم شتون لري. دوه فرقې چې تر ټولو لویې او مشهورې دي د کاتولیک او پروټسټانټ په نوم یادیږي او دا دواړه فرقې ډیرې څانګې لري، خو ټول په یو باور دي چې مسیح پر صلیب باندې مړ شو او بیا راژوندی شو او دا چې هغه یواځینی خلاصوونکی دی، که څه هم ځینې مسیحیان په اساسي موضوعاتو کې سره اختلاف لري مګر دوی ټول له یو والي سره مینه لري او غواړي چې د مسیح له هیلې سره سم په ایمان او محبت کې یو واوسي.

**د کلیسا مقصد څه شی دی؟**

د کلیسا له اهدافو څخه یو دا دی تر څو ایمانداران چمتو کړي چې په خدای پیژندنه، ایمان او مینه کې وده وکړي او له ټولو ایماندارانو سره دوستي او معاشرت ولري، هر ایماندار باید د مسیح له امر سره سم د کلیسا د غړیتوب پر مهال د تعمید مراسم پر ځای کړي، هر مسیحي نورو مسیحیانو ته محتاج دی، په هماغه ډول لکه چې د بدن هر غړې نورو غړو ته محتاج دی، ټول ایمانداران باید یو له بل سره یو وي او خپل یو والی په کلیسا کې وساتي.

لدې پرته مسیح کلیسا ته دنده سپارلې تر څو پدې دنیا کې د هغه کار مخکې بوځي، هغه وخت چې عیسی پدې دنیا کې ژوند کاوه نو د پاک خدای کلام یې خلکو ته بیانوه، ناروغانو ته یې شفا ورکوله، غمژنو ته به یې تسلي ورکوله او ګناهګاران به یې ښو لارو ته ورسمول، مسیح لدې وړاندې چې آسمان ته وخیژي خپلو پیروانو ته حکم وکړ تر څو د خلاصون زیری د دنیا ټولو خلکو ته ورسوي، په نړۍ کې د مسیحیانو لوی کار دا دی چې د مسیح پیغام ټولو خلکو ته ورسوي او هغوی ته بلنه ورکړي چې پر مسیح باندې ایمان راوړي، همدغه راز مسیحیان باید د مسیح مینه ټولو خلکو او د هر مذهب لارویو ته، په ډول ډول ذرایعو، لکه ناروغانو ته د شفا ورکولو، ناپوهانو ته د تعلیم ورکولو، وږو خلکو ته د ډوډۍ ورکولو او د خلاصون د لیار د ښودلو په وسیله وړاندې کړي او هغوی راوبلي تر څو پر هغه ایمان راوړي، عیسی مسیح خپل ژوند د خلکو په چوپړ کې له لاسه ورکړ، د هغه د کلیسا غړي هم باید داسې وکړي.
لکه څرنګه چې د ګډورو هره رمه شپون ته اړتیا لري نو همدارنګه هره ایمانداره ډله یو مشر او لارښود ته ضرورت لري، تر څو دوی ته لارښوونه وکړي او د ضرورت په وخت کې هغه خلک وستغي کوم چې منحرف شویوي. د کلیسا له منځته راتلو تر اوسه پاک خدای د خپلو زامنو د ساتنې لپاره دا ډول ډیر مشران تیار کړي دي، عیسی مسیح دولس تنه رسولان وټاکل تر څو د هغه رسولان واوسي، د نړۍ خلکو ته د هغه پیغام

ورسوي او د هغه د کليسا بنسټ کيږدي، او لکه څرنګه چې وروسته په نوي تړون کې هم وينو، لوی خدای نور کسان هم وټاکل تر څو په کليسا کې شپانه، ښوونکي، زيری ورکوونکي، خادمان، رهبران او سرپرستان واوسي، د مسيح دا ټول روحاني خادمان په ننني کليسا کې خپلې دندې تر سره کوي.

## ۱۳- د مسيحيانو مذهبي مراسم کوم دي؟

لکه څرنګه چې د مسيحيانو عبادت له څو اړخونو څخه د نورو مذهبونو د لارويو له عبادت سره توپير لري، نو کله نا کله اشتباهاً داسې تصور کيږي چې ګواکې مسيحيان مذهبي مراسم نلري، په عين وخت کې غواړم دا موضوع په بشپړه توګه روښانه کړم چې له عبادت څخه د مسيحيانو موخه دا نده تر څو د خپلو ګناهونو ښنه او ژغورنه تر لاسه کړي، لکه څرنګه چې مې مخکې واضحه کړه مونږ نشو کولی د نيکو اعمالو په وسيله ژغورنه تر لاسه کړو، بلکې دغه ښنه مونږ ته د خدای له لوري په وړيا توګه راکول کيږي، پدې شرط چې پر عيسی مسيح ايمان راوړو، نو لدې کبله مونږ د خدای عبادت کوو تر څو د هغه د مينې او وړيا ښنی قدر داني وکړو. اوس اجازه راکړئ چې مسيحي عبادت په لنډه توګه تشريح کړم:

**۱- دعا:**

عيسی خپلو پيروانو ته داسې دعاوې نه دي ور ښودلي چې په يو ټاکلي وخت کې يې په عبراني يا يوناني ژبو تکرار کړي، بلکې داسې يې ويلي دي چې څنګه زامن کولی شي په هر وخت کې چې وغواړي خپل پلار ته ورشي او له هغه سره خبرې وکړي، هغوی هم کولی شي چې د بچو په شان د خدای حضور ته ولاړ شي او په خپله مورنی ژبه له هغه سره خبرې وکړي، د دعا کولو ښه ارزښت نلري، مهمه دا ده چې په پوره مينه، ټول فکر او زړه سره د خدای عبادت وکړو. (متی ۵: ۵ - ۱۵ او يوحنا ۴: ۲۳ - ۲۴).

هغه وخت چې مسيحيان له نورو ايماندارانو سره په کليسا کې راټوليږي، همدغه راز له خپل کورنی سره په کور کې او هغه وخت چې په ورځني کارونو کې بوخت وي په پټه خوله دعا کوي، ډير مسيحيان دا عادت لري چې هره ورځ د سپيڅلي کتاب يوه برخه لولي او دعا کوي، هغوی پخپلو دعاو کې د پاک خدای د بې شميره نعمتونو مننه کوي، په خپلو ګناهونو اعتراف کوي او ښنه غواړي، د ناروغانو د روغتيا او د بې ايمانانو د خلاصون او همدغه راز د خپلو حاکمانو او چارواکو او د نړی د سولې لپاره دعا کوي. عيسی مسيح ويلي چې مونږ بايد تل دعا وکړو. (لوقا ۱:۱۸)

لکه څنګه چې عيسی مسيح د يکشنبې په ورځ له مرګ څخه بيرته ژوندی شو نو د يکشنبې ورځ د مسيحيانو لپاره سپيڅلې ورځ ده، په کليساګانو کې عبادت هم د يکشنبې په ورځ باندې کيږي خو په نورو ورځو کې هم د عبادت مجلسونه جوړيږي، د کليسا د

عبادت په مجلسونو کې سپيڅلي کتاب لوستل کيږي، روحاني سرودونه ويل کيږي او د کليسا پاستور (مشر) وعظ کوي. که تاسو غواړئ د مسيحيانو د عبادت په مجلسونو کې برخه واخلئ نو ستاسو يو مسيحي ملګری تاسو هلته بوتللی شي.

**۲- روژه**

مسيح د خپلو لارويو لپاره د روژې نيولو کوم وخت ندی ټاکلی، له همدې کبله د هغه د پيروانو لپاره روژه اختياري ده، عيسی خپلو پيروانو ته فرمايلي دي: هر وخت چې روژه نيسئ نو د پاک خدای د خوشحالئ لپاره يې ونيسئ، نه د رياکارانو په شان چې خلک ستاسو صفت او ستاينه وکړي. (متی ٦: ١٦ - ١٧)

ځيني مسيحيان د جمعې په ورځ لدې کبله غوښه نه خوري چې په دې ورځ عيسی پر صليب وخيژول شو، ځينی نور هم د عيسی د مصلوب کيدو له نيتې څلويښت ورځې وړاندې ځيني خواړه نه خوري، د دې رواجونو په هکله په سپيڅلی کتاب کې څه نه ليدل کيږي خو دومره ويل شوي چې له ټولو بدو شيانو او شرارتونو څخه بايد پرهيز وشي، دا غوره ده چې د مسيح دا خبره دلته ياده کړو چې ويلي يې دي: (د خدای ټول نعمتونه حلال دي، کوم شی چې انسان پليتوي ،هغه خواړه نه دي کوم چې له خولې څخه ښکته ځي، بلکې د انسان د ناپاکئ وجه هغه بد کردار دی چې د هغه له زړه څخه سرچينه اخلي او د زنا، غلا، قتل، تنګ نظرئ، غرور او داسې نورو ګناهونو سبب ګرځي .

(مرقوس ۷: ۱۸ - ۲۳).

**۳- زکات**

عيسی دا نده ټاکلې چې د مسيحيانو د شتمنئ او ګټې څومره برخه دې د خدای د کار او بېوزلو ته ورکړل شي ،هغه داسې تعليم ورکړی چې زمونږ ټوله شتمني د خدای پورې اړه لري او مونږ بايد له هغې څخه سمه ګټه پورته کړو، نو لدې کبله مسيحيان د خدای د نعمتونو د شکر ادا کولو لپاره په خپله رضا او غوښتنه ، له هغه مال څخه چې خدای دَ امانت په توګه ورکړی يوه اندازه مال د کليسا شپونکو، کليسايي کارونو، بېوزلانو او ناروغانو سره د مرستې او هغو خلکو ته د زيري د رسولو لپاره، کومو ته چې تر اوسه د مسيح د ژغورنې زيری ندی رسيدلی ورکوي، مسيح فرمايلي چې د هغه لاروي بايد له سخاوت سره هداياوې ورکړي تر څو خدای پاک ور څخه خوشحاله شي، ډير مسيحيان د خپلې مياشتينئ ګټې لسمه برخه خدای ته ورکوي، مګر دا د دې لپاره نه ورکوي تر څو د خلکو د ستاينې وړ وګرځي. (متی ۶: ۱ - ۴)

**۴- زيارت**

عيسی خپلو پيروانو ته په هيڅ ډول امر ندی کړی چې کوم سپيڅلی ځای ته د زيارت لپاره ولاړ شي او عبادت وکړي ځکه چې خدای تعالی په هر ځای کې شتون لري، ځينی مسيحيان غواړي چې اسرائيل ته ولاړ شي او هغه مځکه وګوري چې عيسی پکې ژوند

کاوه، مګر هغه ځای ته تلل کوم مذهبي ثواب نلري، دا یو ناشونی کار دی چې وکولی شو د مسیح قبر ته په ورتګ د هغه د بدن درناوی پر ځای کړو ځکه قبر خالي دی، هغه په قبر کې نشته او ژوندی دی.

**۵ - اخترونه**

عیسی خپلو پیروانو ته امر نه دی کړی چې په ټاکلو ورځو کې د اختر مراسم پر ځای کړي، مسیحیان درې اخترونه لري: لومړی اختر د مسیح د زوکړې ورځ ده، ډیر مسیحیان د عیسی د پیدایښت نیټه د دسمبر ۲۵ نیټه ښایي، مګر ځیني نور وایي چې دغه نیټه د جنوری شپږمه ده، خو د عیسی د زوکړې اصلي نیټه معلومه نه ده.
دویم اختر د عیسی د بیرته ژوندي کیدو اختر دی چې مسیحیان پکې خوشحالي کوي، د مسیح د بیرته ژوندي کیدلو نیټه د اپریل او مارچ د میاشتې د سپوږمۍ له مخې ټاکل کیږي، د مارچ او اپریل د میاشتو تر منځ هره شپه چې سپوږمۍ پوره وی هماغه نیټه د اختر پیل دی.
دریم اختر د پنطیکاست اختر دی چې د عیسی د ژوندي کیدلو له نیټې څخه اوه اونۍ وروسته پیل کیږي، او دا هغه ورځ ده چې روح القدس د هغه پر شاګردانو نازل شو، دا درې اخترونه د مسیحیانو مذهبي اخترونه دي، د نوي کال اختر (د جنوری لومړی نیټه) ملي اختر دی.

**۶- اساسي دودونه**

عیسی دوه سپیڅلي اساسات ټاکلي چې باید هغه په کلیسا کې تر سره شي. لومړې د تعمید غسل دی چې مخکې مې د هغې په هکله پوره رڼا واچوله، او هغه د کلیسا د غړیتوب نښه ده، دویم د مالک ماښامنی دی، لدې وړاندې چې عیسی مصلوب شي نو یوه شپه یې خپلو شاګردانو ته ډوډۍ ورکړه او ویې ویل: (دا زما ځان دی)، همدارنګه یې دوی ته د انګورو شربت ورکړ او هغوی ته یې وویل: (دا زما وینه ده) عیسی ډوډۍ او د انګورو اوبه د خپل بدن او وینې نښه وګرځوله او خپلو لارویو ته یې امر وکړ چې دا رسم دې په ټولو کلیساګانو کې د هغه په یاد کې پر ځای کړي، مسیحیان کله نا کله په بیلابیلو ځایونو کې سره یو ځای کیږي او یوه ټوټه ډوډۍ د انګورو له شربت سره خوري او دا په یادوي چې عیسی مسیح د هغوی لپاره ځان قربان کړ او د هغه قدرت ته د ایمان په وسیله په خپلو زړونو کې ځای ورکوي، مسیحیان لدې سپیڅلي رسم څخه ډیرې روحاني ګټې اخلي. (د قرنتیانو لومړی لیک: ۱۱: ۲۳-۳۰)

**۷ - واده**
د عیسی مسیح له تعلیمونو څخه یو دا دی چې یو سړی باید یوه ښځه وکړي، ښځه او خاوند باید د زړه له کومې یو بل سره مینه ولري او تر مرګه یو بل ته وفادار پاتې شي، عیسی مسیح ویلي دي: نور دوی دوه نه دي بلکې یو بدن دی، او هغه څه چې خدای یو ځای کړل، نو انسان دې یې نه جدا کوي. (متی۱۹: ۱-۱۲)، (هر څوک چې خپله ښځه طلاقه کړي او بله په نکاح کړي نو هغه د لومړنۍ ښځې پر حق زنا کوي، همدغه راز که یوه ښځه له خپل خاوند څخه بیله شي او بل میړه وکړي نو هغه زنا کوي).
(مرقوس۱۰: ۲-۱۲)
هغوی ته ویل شوي وو، کوم سړي چې خپله ښځه طلاقه کړي نو خامخا دې هغې ته طلاق نامه ورکړي، خو زه درته دا وایم چې کوم سړی له حرام کارۍ پرته په بله څه وجه خپله ښځه طلاقه کړي نو پر هغې زنا کوي. (متی ۵: ۳۱- ۳۲) همدغه راز پولوس وایي چې د ښځې او میړه مینه باید داسې وي لکه چې د عیسی او د ده د قوم تر منځ موجوده وه.
(افسیان ۵: ۲۱-۳۳)

## ۱۴- د مسیحیت اخلاقي لارښوونې کومې دي؟

په پخواني ترون کې ډېر قوانین پیدا کیږي چې لوی خدای خپل قوم اسرائیلو ته ورښلي دي، په لسو حکمونو کې چې د خروج د کتاب په شلم فصل کې لیدل کیږي لوی خدای مونږ ته امر کړی چې د خپل مور او پلار احترام وساتۍ او له بدو اعمالو لکه قتل، زنا، غلا، دروغو او د نورو مال ته د تمې لرلو څخه ډډه وکړئ، همدارنګه نور اخلاقي قوانین یې هم ورکړی وو چې له هغوی څخه یو دا و چې: خپل ګاونډي سره د خپل ځان پشان مینه وکړئ (متی ۵: ۴۳، لاویان ۱۹: ۱۸)
عیسی لدې قوانینو څخه یو هم بدل نکړ بلکې د دې قوانینو د اصلي موخې په تشریح سره یې هغه بشپړ کړل. د بیلګې په توګه عیسی مسیح وویل: که څوک له خپلې ښځې پرته، بلې ښځې ته د شهوت په نظر سره وګوري داسې معنی لري لکه چې زنا یې ور سره کړې وي، د موسی شریعت یو سړي د زنا په سبب محکوموي، خو عیسی مسیح شهواني افکارغندي کوم چې له زړه څخه راوځي او د شرارت او بد کاریو سبب ګرځي. هغه وویل چې: باید ریښتیا ووایو او قسم خوړل یې منع کړل ځکه چې هغه عقیده درلوده چې هر څه وایو باید ریښتیا وي او قسم خوړلو ته هیڅ ضرورت نشته، هغه خپلو پیروانو ته وویل چې: نه یواځې یو بل ته بلکې خپلو دښمنانو ته هم دعا وکړئ، هغه هر ډول مستي

اوغیراخلاقي کارونه منع کړي دي، هغه وویل چې د خدای زامن باید داسې کامل وي لکه څرنګه چې د هغوی آسماني پلار کامل دی. (متي ۵: ۱۷-۴۷)
عیسی د ژوندانه په باره کې یو امر وکړ چې په هر وخت کې په کار راځي، هغه امر دا و چې: (له نورو سره تل داسې سلوک کوئ لکه څنګه چې تاسو د ځان لپاره غواړئ، د شریعت او نبیانو تعلیم همدا دی). ( متی ۷: ۱۲)

دا ارزښتناک تعلیم د (طلایي قانون) په نوم نومول شوی، دا تعلیم نه یواځې د نورو پر وړاندې مونږ له بدو کارونو څخه منع کوي، بلکې مونږ تشویقوي تر څو ټولې هغه نیکۍ چې مونږ توقع لرو چې نور یې زمونږ سره وکړي، مونږ یې له هغوی سره وکړو.
د پاملرنې وړ ده چې انجیل د خوراک، کالیو او نورو ټولو هغه مسائلو په هکله کوم چې د زمانې په تیریدلو سره د تحول او بدلون وړ دي مفصل احکام نلري، بلکې پر هغو اصولي احکامو مشتمل دی کوم چې دایمي او په هر حال کې د اجرا وړ دي، کولایشو د عیسی ټولې لار ښوونې د مینې په کلمه کې راونغاړو، د عیسی مینه یوه بشپړه مینه ده، ځکه هغه خپلو شاګردانو ته وویل چې: باید یو له بل سره داسې مینه ولرئ لکه زه یې چې لتاسو سره لرم. (یوحنا ۱۵: ۱۲)
مونږ مسیحیان ښه پوهیږو چې عیسی زمونږ سره څه ډول مینه وکړه؟ هغه زمونږ لپاره مړ شو او خپل ځان یې قربان کړ، او له هغه څخه زده کوو چې باید له نورو سره مینه وکړو. (اول یوحنا ۴: ۱۹)
د عیسی روح د مینې او محبت روح دی، کله چې عیسی خپل روح په مونږ کې واچوي، هغه وخت کولی شو چې ټولو خلکو حتی له خپلو دښمنانو سره هم د مسیح پشان مینه وکړو. (رومیان ۵: ۱۵ او ۱۲: ۱۷-۲۱)
دا مینه باید یواځې زمونږ په زړونو کې پاتې نشي، بلکې باید هغه عملاً څرګنده کړو، یوحنا رسول وایي که څوک کولی شي چې له خپل بیوزلې ورور سره مرسته وکړي، مګر له هغې څخه غفلت کوي، نو د خدای مینه یې په زړه کې نشته.

په لاندینیو کرښو کې د مینې په هکله د پولوس هغه وینا بیانوو چې ډیره د ارزښت وړ ده:
که چیرې زه د فرښتو او انسانانو په ژبو خبرې کوم او مینه ونلرم نو د ټنګیدونکي سلور یا چغیدونکي چنچنې پشان یم، او که چیرې نبوت ولرم او په ټولو رازونو او علمونو دومره بشپړ ایمان ولرم چې غرونه وخوځوم مګر مینه ونلرم نو هیڅ نه یم، که چیرې خپل ټول مالونه صدقه کړم او خپل ځان سوځولو ته وسپارم مګر مینه ونلرم نو هیڅ ګټه به ونکړم، مینه بردباره او مهربانه ده، مینه کینه نکوي، مینه کبر اوغرور نلري، ناخوښه چلن نلري او د خپلې ګټې غوښتونکې نده، غصه نکوي او بد ګماني نلري، مینه له ناراستی څخه نه خوشحالیږي بلکې په ریښتیاو خوښي کوي، په هر څه کې صبر کوي او په هر څه یقین کوي، د هر څه امید لري او هر څه زغمي، مینه هیڅکله زوال نلري مګر نبوتونه به لمنځه ولاړ شي، ژبې به ختمې شي او علم به فنا شي، ځکه چې زمونږ علم او

نبوت نیمګړی دی، او کله چې بشپړ راشي نو نیمګړی به نیشت شي. کله چې ماشوم وم نو د ماشوم په څیر خبرې مې کولی، د ماشوم په څیر فکر مې کاوه، او پوهه مې د ماشوم په څیر وه، مګر کله چې لوی شوم نو د ماشومانو کارونه مې پریښودل، ځکه چې اوس په هنداره کې خړپړ وینم مګر هغه وخت به یې مخامخووینم، اوس نیمګړی علم لرم مګر هغه وخت به وپیژندلی شم، لکه څرنګه چې پیژندل شوی یم، لنډه دا چې درې شیان پاتې کیږي یعنې ایمان، امید او مینه مګر په دوی کې مینه ډیره لویه ده.

(د قرنتیانو لومړی لیک ۱۳ باب).

له خلکو سره د مسیح مینه یواځې د خبرو له لارې نه، بلکې ناروغانو ته د شفا، وږو ته د خوراک ورکولو او ګناهګارانو لپاره پر صلیب د ځان قربانولو له لیاری څرګنده شوه، همدا د عیسی مسیح مینه ده چې خپل لاروي تشویقوي تر څو د ناروغانو لپاره روغتونونه، د یتیمانو لپاره مرستونونه، د ماشومانو لپاره ښوونځي او د نړۍ د ټولو قومونو او مذاهبو لپاره د خدمت مؤسسات جوړ کړي، عیسی مسیح غوښتل چې مینه باید د هغه د شاګردانو یواځینۍ نښه وي. (یوحنا ۱۳: ۳۵)

مونږ مسیحیان باید په ډیر شرم سره اعتراف وکړو چې زمونږ مینه نیمګړې ده، خو ریښتیني مسیحیان غواړي چې د خپل استاذ په شان له نورو سره مینه ولري.

## ۱۵ـ د مسیحیانو عقیده د قیامت په هکله :

لکه څرنګه چې مې مخکې وویل، مسیحیان پر قادر مطلق خدای ایمان لري چې هغه د دې دنیا لپاره یوه نقشه لري او دا نقشه به خامخا عملي کیږي. کله چې بشر د خدای پر وړاندې سر کښي وکړه او ګناهګار شو نو خدای خپل زوی د نړۍ د ژغورنې لپاره راولیږه، چا چې پر هغه ایمان راوړ وبه ژغورل شي او چا چې هغه رد کړ نو محکوم به شي . (یوحنا ۳: ۱۶ـ۱۹)

په پای کې به لوی خدای خپل ټول دښمنان د ځان تابع کړي او خپله تل پاتې پاچایي به رامنځ ته کړي په کوم کې به چې هیڅ ډول شرارت نه وي. په سپیڅلي کتاب کې د راتلونکي په هکله ډیرې وړاندوینې موندل کیږي مګر خدای لازمه نه ده ګڼلې تر څو هر څه مونږ ته په بشپړه توکه روښانه کړي، لدې کبله مسیحیان د ډیرو نبوتونو په هکله په مختلفو لیارو تفسیرونه او تعبیرونه کوي. اوس به زه تاسو ته هغه راتلونکې پیښې چې ډیرو مسیحیانو ته د باور وړ دي تشریح کړم.

**(۱) ـ د عیسی مسیح راتګ**

مخکې لدې چې عیسی مسیح آسمان ته ولاړ شي، خپلو شاګردانو ته یې څو ځلې دا ډاډ ورکړې وو چې هغه به بیرته راشي، او مسیحیان تر اوسه د هغه د راتګ په تمه دي، د عیسی مسیح لومړنې راتګ د خلاصون لپاره و، خو دویم راتګ یې د قضاوت او د لوی خدای د پاچاهۍ د جوړولو لپاره دی. کله چې د عیسی شاګردانو له هغه څخه پوښتنه وکړه چې څه وخت به بیرته راځي؟ نو هغه وویل: لوی خدای د هغه د راتګ په وخت ښه پوهیږي او خلکو ته یې وویل چې دوی باید تل تیار اوسي، ځکه هغه به داسې مهال راځي چې څوک به یې په تمه هم نه وي، هغه وویل چې له ډیرو ملایکو سره به راشي او د ده راتګ به د تندر او بریښنا په څیر هر څوک ویني، هغه خپل شاګردان د دروغژنو پیغمبرانو له راتګ څخه خبر کړل، په ښه توګه پوهیږو چې د تیرو ۱۹۰۰ کلونو په اوږدو کې ډیر دروغژن پیغمبران راغلل مګر پوه او عقلمند مسیحیان پرې ونه غولیدل، ځکه عیسی دوی ته په ښه ډول دا خبره څرګنده کړه چې که هر څوک ووایي: عیسی راغلی او په فلاني ځای کې دی نو هغه سړی به دروغژن مسیح وي.

هغه وخت چې عیسی مسیح آسمان ته پورته کیده نو ملایکو د هغه شاګردانو ته چې ده ته یې کتل وویل: (اې ګلیلیانو! ولی دلته ولاړ او د آسمان لور ته ګورئ؟ همدغه عیسی چې ستاسو څخه پورته آسمان ته بوتلل شو، په همدی ډول به بیا راشي، لکه څرنګه مو چې آسمان ته په تلو ولید.). (د رسولانو اعمال ۱: ۱۱)

نو عیسی به د خپل دویم راتګ پر مهال د هغه ماشوم په څیر چې له بشري مور څخه پیدا شوی وي نړۍ ته را نه شي تر څو د لومړي ځل په څیر له سره پر مځکه ژوند وکړي او مړ شي، ځکه سپیڅلی کتاب وایي چې: عیسی فقط یو ځل زمونږ د ګناهونو لپاره مړ شو او بیا به له سره مړ نشي ځکه نور مرګ پر هغه واک نلري. (رومیان ۶: ۹)

لدې څخه معلومیږي، له هغه وخته چې عیسی آسمان ته پورته شوی بیرته مځکې ته نه دې راغلی. هغه وخت چې عیسی له مړینې څخه ژوندی شو، نو د هغه بدن په روحاني بدن چې مرګ پر هغه لاره نه درلوده بدل شو، لدې کبله هغه کولی شول چې د آسماني ملایکو په څیر پټ او څرګند شي، هغه د روحاني بدن په لرلو سره اوس په آسمان کې دی او مونږ عقیده لرو چې هغه به له همدې روحاني بدن سره بیا راشي او په نوې بڼه به خلکو ته ښکاره شي. لکه څرنګه چې مسیحیان تل د عیسی مسیح د راتګ د ځای او وخت په هکله له اشتباه سره مخامخ شوي نو غوره به دا وي تر څو مونږ لدې اشتباه څخه ډډه وکړو، مونږ ټول باید داسې ژوند وکړو او د خدای داسې خدمت وکړو چې ګواکې هغه هر وخت راتلونکی دی او مونږ د هغه هر کلي ته تیار واوسو. (متی ۲۴ او ۲۵ بابونه)

کله چې عیسی مسیح بیرته راشي نو څه به وکړي؟ د دې پوښتنې ځواب په سپیڅلي کتاب کې په بشپړ ډول واضح نه دی، یوه برخه مسیحیان عقیده لري چې عیسی به د دنیا ټول شرارت له منځه یوسي، پر مځکه به د خدای سلطنت جوړ کړي او په خپله پادشاهی به بوخت شي، ټول خلک به د هغه تر فرمان لاندې وي، د سولې او ریښتینی عدالت وخت به را ورسیږي، هغه وخت به د مځکې پر مخ ژوند په هغه ډول وي لکه څنګه چې د پاک خدای نقشه وه، کوم کار چې باید د انسان له سرغړونې څخه وړاندې شوی وای، یوه بله برخه مسیحیان داسې فکر کوي چې د عیسی پادشاهي به د دنیا د پادشاهی په څیر نه وي او هغه به د یوه روحاني پاچا په شان تل پاتی پادشاهي وکړي، کله چې هغه راشي، نو بې له شکه د هغه کارونه به زمونږ له تصور څخه ډیر لوړ وي. اړینه نه ده تر څو پدی ټولو رازونو ځان پوه کړو مګر لازمه ده تر څو ټول د هغه د راتګ لپاره ځان تیار کړو.

## (۲) - د مړو ژوندي کول

عیسی وویل: (پدې مه حیرانیږی، ځکه داسې ساعت راتلونکی دی چې په هغې کې به ټول هغه خلک چې په قبرونو کې دي د ده غږ واوري او بهر به راووځي، هر چا چې نیک عمل کړي وي هغوی به د تل پاتی ژوندون لپاره او چا چې بد کړي وي هغوی به د سزا لپاره را پورته کړې شي.) (یوحنا ۵: ۲۸-۲۹ )
عیسی وایي لکه څرنګه یې چې په فلسطین کې مړي راژوندي کول او ځینې خلک یې راژوندي کړل په همدې ډول به ټول مړي له قبرونو څخه را پورته کړي، کله چې مړي ژوندي شي نو د دوی بدنونه به څنګه وي؟ پولوس رسول وایي چې د ایماندارانو جسماني بدنونه به د قیامت په ورځ داسې بدل شي لکه چې تخم په خاوره کې وشیندل شي او هغه په بوټي بدل شي. (لومړی قرنتیان ۱۵ باب).

عیسی د هغه چا په ځواب کې چې د راتلونکي ژوند په هکله یې تری وکړه وویل: په راتلونکي ژوند کې به هیڅ ډول واده نه وي او ایمانداران به د ملایکو غوندې ژوند وکړي (متی ۲۲: ۳).

## (۳) - وروستی قضاوت

عیسي به نه یواځې مړي راژوندي کړي، بلکې د ټولو خلکو قضاوت به هم وکړي، هغه وفرمایل چې ټول خلک به د ده په حضور کې را ټول شي او هغوی به یو له بل څخه داسې جلا کړي، لکه شپون چې ؤري له پسونو څخه جلا کوي، هغه چا ته به چې له ناروغانو اوبیوزلانو سره یې مرسته کړي وي داسې ووایي: (ای زما د پلار مبارکو خلکو! راشئ او د هغې پادشاهی وارثان شئ کومه چې د دنیا له پیل څخه ستاسو لپاره جوړه شوې وه.) او هغه چا ته چې له نورو سره یې په مینه کې غفلت کړی و به

وائي: (زما څخه لیرې شی، هغه تل پاتی اور ته کوم چې د شیطان او د هغه د فرښتو لپاره تیار شوي دي) دوی به تل پاتی اور ته او صالحین به تل پاتی ژوندون ته ورننوځي. (متی ۲۵: ۳۱-۴۲)

خدای به د عیسی په لاس د ټولو انسانانو قضاوت وکړي، مونږ ټول که له هر قوم او مذهب څخه یو، یوه ورځ به د عیسی عادلانه حضور ته ودریږو تر څو د هغو کارونو په هکله زمونږ سره حساب وکړي کوم چې مو د ژوند پر مهال پدې دنیا کې تر سره کړي دي. (یوحنا ۵: ۲۲ ـ د رسولانو اعمال ۱۷: ۳۱ او دویم قرنتیان ۵: ۱۰)

البته هغه یو عادل قاضي دی او د رحمت له مخې به عدالت وکړي. آیا داسې څوک پیدا کیږي چې لدې ویروونکې ورځې څخه و نه ویریږي؟ هوکې! هغه څوک چې پرژغورونکي مسیح ریښتینی ایمان ولري، له قاضي مسیح څخه به و نه ویریږي، ځکه هغه فرمایلي دي: (آمین، آمین، تاسو ته وایم، هر څوک چې زما کلام واوري او زما په رالیږونکي ایمان راوړي، هغه به تلپاتی ژوندون ولري او حساب به ورسره ونشي، ځکه چې له مرگ څخه ژوندون ته راغلی دی.) (یوحنا ۵ : ۲۴)

هوکې! سره لدې چې د مسیح ایمانداران بې گناه نه دي مگر د خدای له لوري به ومنل شي، ځکه دوی ایمان لري چې عیسی د دوی لپاره ځان ورکړی دی، هغه څوک چې پر عیسی مسیح ایمان لري د عادلانه قضاوت په نتیجه کې به د خپلی وفادارۍ انعام واخلي (متی ۲۵: ۱۴ – ۳۰ لومړی قرنتیان ۳: ۱۲- ۱۵).

د هغو کسانو جزا چې له عیسی مسیح څخه منکر دي څه ده؟ هغوی به ملامته شي او جزا به ورکړل شي ځکه چې مسیح فرمایلي: (هر څوک چې ایمان را نه وړي اوس پر هغوی حکم شوی دی، ځکه چې هغوی د خدای د یواځیني زوی په نوم ایمان نه دی راوړی او حکم دا دی چې نړۍ ته رڼا راغله مگر خلکو تیاره له رڼا څخه زیاته خوښوله ځکه چې د هغوی اعمال بد دي.) (یوحنا ۳: ۱۸-۱۹)

هغه څوک چې د خدای زوی نه مني، هغوی خدای تعالی نه مني او په حقیقت کې تر دې لویه گناه نشته.

گرانه! اوس په ښه توگه کولی شې وپوهیږې چې مونږ مسیحیان ولې غواړو تر څو ټول خلک چې په هر ځای کې وي مسیح وپیژني او پر هغه ایمان راوړي، ځکه که چیرې دوی هغه و نه مني نو لوی خدای به هم دوی و نه مني.

**(۴) - جنت او دوزخ**

هغه څه چې تر اوسه بیان شول د مسیحیانو د آینده ژوند په هکله یې د هغوی پر اصولي عقایدو رڼا واچوله، هغه څوک چې د مسیح له خوا منل شوي وي د خدای په مخ

کې حاضرېږي او په خوښۍ سره تل تر تله ژوند کوي، عیسی وویل: (زما د پلار په کور کې د اوسیدو ډیر ځایونه دي، که چیرې داسې نه وی نو بیا به ما تاسو ته ویلي وو، ځکه زه ځم چې ستاسو لپاره هلته ځای تیار کړم نو پخپله به بیا راشم او تاسو به له ځان سره بوزم، ځکه چې چیرې زه یم هلته به تاسو هم یاست.) (یوحنا ۱۴: ۲ – ۳).

د سپیڅلي کتاب په پای کې یوحنا رسول د خدای په حضور کې د ژوند جلال داسې تشریح کوي: (بیا ما یو نوی آسمان او یوه نوې مځکه ولیده، ځکه چې لومړنی آسمان او لومړنۍ مځکه غایب شوي وو او سمندر هم نه و، ما پاک ښار یعنې نوی اورشلیم ولید چې د خدای لخوا د آسمان له لوري راکوزیده، او دا داسې تیار کړی شوی و لکه چې ناوې د خپل خاوند لپاره ښکلې تیاره کړې شوې وي، ما له تخت څخه یو اوچت آواز واورید چې دایې ویل: وګورئ! اوس خدای د انسانانو په منځ کې استوګنه کوي، هغه به د هغوی سره اوسیږي او هغوی به د هغه امت وي او خدای به پخپله له هغوی سره وي، هغه به د هغوی د سترګو ټولې اوښکې وچې کړي، هلته به نه مرګ، نه ویره، نه ژړا او نه درد وي، ځکه چې لومړني شیان تیر شوي دي. بیا څوک چې پر تخت ناست و، هغه وویل چې: وګورئ! زه ټول شیان نوي کوم! او هغه ما ته وویل چې دا ولیکه، ځکه چې دا ټولې خبرې د اعتبار وړ او ریښتیا دي، نو ما ته یې وویل چې: تمام شو، زه الف او یا ، اول او آخر یم ،هر څوک چې تږی وي زه به هغه ته د ژوندون د اوبو له چینې څخه وړیا ورکړم، هر څوک چې بریالی شي هغه به د دې وارث شي، زه به د هغه خدای یم او هغه به زما زوی وي.) (مکاشفه ۲۱: ۱ - ۷)

دا هغه جنت دی چې خدای د خپلو بنده ګانو لپاره جوړ کړی دی، د هغه جلال او لوی والی زمونږ له فکر څخه ډیر لوړ دی، ځکه چې سپیڅلی کتاب وایي: (څه چې سترګو ندي لیدلي، غوږونو ندي اوریدلي او نه د انسان په زړه کې راغلي دي، هغه شیان خدای د هغو لپاره تیار کړي څوک چې ورسره مینه لري) (د قرنتیانو لومړی لیک ۲: ۹).

څوک چې د خدای اطاعت نه کوي د هغوی انجام به څه وي؟ خدای وایي: (خو د ویریدونکو، بې ایمانانو، پلیتانو، قاتلانو، زناکارانو، جادوګرانو، بت پرستانو او هر قسم دروغژنو برخه به په هغه سیندګوټي کې وي چې د ګوګړو اور پکې بلیږي، او دا دویم مرګ دی.)) (مکاشفه ۸:۲۱)

دوزخ هغه ځای دی چې انسان د پاک خدای له نور او مینې څخه لیرې کیږي او په هیڅ یوه ژبه هم نشو کولی د هغه د وحشت صفت په بشپړ ډول بیان کړو، کاشکې ټول خلک د ابدي سزا پر ځای د ابدي ژوند په لټه کې شي.

**(۵) – د ایماندارانو مرګ**

آیا هغه څوک چې پر عیسی مسیح ایمان لري له مرګ څخه ویریږي؟ نه هیڅکله نه، هغوی له مرګ څخه نه ویریږي، ځکه چې مسیح له دوی سره وعده کړې چې له مرګ وروسته به دوی له هغه سره ژوند وکړي (دویم قرنتیان ۵: ۸).

پولوس رسول هغه وخت چې ممکن و په روم کې اعدام شي داسې ولیکل: (زه په دوه لارې کې را ګیر شوی یم او هیله من یم چې دا ژوند پریږدم او له مسیح سره واوسم چې دا ډیر غوره دی.) (فیلپیان ۱: ۲۳)

کله نا کله خلک تعجب کوي چې مسیحیان د خپلو عزیزانو د مړینې په مراسمو کې سندرې وایي، د دې کار دلیل دا دی چې مونږ پوهیږو چې هغوی مړه نه دي او مسیح ته تللي دي، په عین حال کې چې مونږ د دوی له بیلتون څخه حفه یو او اوښکی تویوو او کله چې پوه شو چې دوی مسیح ته تللي نو خوشحالیږو.

**پای :**

ګرانه! اوس باید خپل اوږد لیک پای ته ورسوم او هیله لرم چې ستا پوښتنو ته مې قانع کوونکي ځوابونه ورکړي وي، بې شکه نورې پوښتنې هم لرې، چې تر اوسه مې د هغو ځواب نه دی در کړی، بې شکه غواړې پوښتنه وکړې چې آیا نني علمي کشفیات (برسیرنې) له مسیحي ایمان سره مغایرت (توپیرونه) لري؟

نه، په هیڅ وجه یې نه لري. لوی خدای د ټولو حقیقتونو سرچینه ده، دا حقیقتونه که په سپیڅلي کتاب کې وي یا په طبیعت کې، د ریښتیني ایمان او ریښتیني پوهې تر منځ هیڅ توپیر نشته، د ننني زماني ډیر پوهان مسیحي ایمانداران دي، هر څومره چې پوهان د دې لوی عالم رازونه څرګندوي، په هماغه کچه مونږ د لوی خدای په لوی والي، حکمت او جلال باندې پوهیږو. تاسو د ډیرو نورو خلکو په شان د دې دنیا د جنګ، بې عدالتۍ، رنځ، بیوزلۍ او نورو شیانو څخه غمژن یاست او پوښتنه کوئ چې ولې پاک خدای اجازه ورکوي چې په نړۍ کې دا شرارتونه پیدا شي؟ هغه ځواب چې سپیڅلی کتاب یې مونږ ته راکوي دا دی چې: ټول ګناهونه او بدۍ د ګناهګار انسان په واسطه منځ ته راځي، نه د خدای پاک په واسطه، خدای اوس هم پدې حاضر وخت کې خلکو ته د خپلو ګناهونو په سبب سزا ورکوي.

لکه څرنګه چې مې مخکې وویل په پای کې به هم خدای هر سړي ته د خپلې ګناه په اندازه جزا ورکوي، دنیا د خدای تر نظر لاندې اداره کیږی، که نه پوهیږو چې په جهان کې ولې دومره شرارتونه شتون لري، خو دومره پوهیږو چې خدای به آخر ابلیس په دوزخ کې واچوي او خپل ابدي حکومت به منځ ته راوړي.

ګرانه! له ستا څخه زما یوه ضروري غوښتنه دا ده چې سپیڅلی کتاب ښه ولولې او دعا وکړې چې لوی خدای د هغې د لارښوونو په پوهیدلو کې ستا سره مرسته وکړي او پر عیسی مسیح د ایمان لرلو له کبله ته د لوی خدای زوی شې، اوس نو هیله لرم چې د خپل ټول ژوند په اوږدو کې خپل خدای او د هغه خلکو ته خدمت وکړې او لدې وروسته به له مسیح سره یو ځای د خپل آسمانی پلار په کور کې ژوند وکړې.

**ستا نژدې او وفادار ملګری**
**ویلیام. م . میلر**

ګرانه لوستونکیه

ستا په لاس کې کتاب د ډاکټر ویلیم میلر د نیمې پیړۍ کوښښونو او تجربولاسته راوړنه ده چې د مسیحیت مهم مسائل یې په ډیره خوږه ژبه او خوږې وینا سره په هغې کې راټول کړیدي.

پوره باور لرو چې ددې کتاب لوستل به د حقیقي او ژوندي خدای د پیژندنې او مسیحي ایمان او اخلاقي لاربښوونو د درک په لار کې لتا سره مرسته وکړي..

راځئ ددې کتاب په لوستلو سره د مالک عیسی مسیح د ژوند ښېونکو لاربښوونو څخه، یوه په خپل ژوند کې عملي کړو چې فرمایي

ای ټولو خواریکښو چې پیټې مو دروند دی زما څنګ ته راشئ، زه به تاسو ته آرامښت درکړم. (متی ١١ : ٢٨)